منبع الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا هَلۡ اَدُلُّكُمۡ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنۡجِيۡكُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۝ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَتُجَاهِدُوۡنَ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِكُمۡ وَاَنۡفُسِكُمۡ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ۝ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِىۡ جَنّٰتِ عَدۡنٍ ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ۝

ترجمه : ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (یعنی ای مومنانو) آیا (دروښیم تاسی ته) دلالت وکړم تاسی ته په هسی تجارت سوداګری چی نجات ورکوی ژغوری خلاصوی تاسی له عذاب دردناك (پس دغه تجارت او سوداګری کوی چی هغه دا دی) ښه ټینګ محکم مضبوط اوسی په ایمان باندی چی لری یی په الله باندی او په رسول استاځی ددغه (الله) او جهاد جنګ کوی تاسی (ای مومنانو له اعداء الله سره) په لاره د الله کی په اموالو شتو خپلو سره او نفسو خپلوسره (چی جنګ ته یی وړاندی کوی) دغه (ټینګ ایمان او مالی او جانی جهاد) خیر بهتر دی تاسی ته (ای مومنانو ! له نورو دنیوی معاملاتو څخه)که چیری یی تاسی چی پوهیږی (په طریقی د حقیقی تجارت باندی پس محکم ایمان راوړی او پوره جهاد وکړی نو) وبه ښښی (الله) تاسی ته (ای مومنانو په دنیا کی تیر شوی) ګناهونه د تاسی او داخل به کړی تاسی (ننه باسی به مو په داسی) جنتوکی چی بهیږی له لاندی (د ماڼیواو ونو) دهغو (دپاکو شرابو او دشاتو او دشودو او دخوږو اوبو) ویالی او (داخل به موکړی) په ځایونو ښایسته و پاکیزه وکی (چی جوړشوی دی) په جنتو د همیشه او سیدلو کی دغه (مغفرت او ادخال د جنت مومنانو ته) فوز عظیم بری موندل په مراد رسیدل ډیر لوی دی .

الجهاد

علمي او جهادي میاشتنی خپرونه

مؤسس: الحاج مولوي جلال الدین حقاني

دتأسیس کال: ۱٤۰۹ هـ ق / ۱۳٦۸ هـ ش

مسوول مدیر: عبدالکریم محب

لومړی کال، څلورمه - پنځمه ګڼه، ربیع الاول - ربیع الثاني ۱٤۱۰ هـ ق، میزان - عقرب ۱۳٦۸

په دې ګڼه کې

مخ	عنوان
۲	- دجهاد د قائدینو او قوماندانانو لپاره ....
۱۱	- دحضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ....
۱۷	- په افغانستان کې دجهاد لومړنۍ .....
۲۳	- دجهاد د سنګر له یو زړور قوماندان...
۲۸	- شهامت وثبات یکی از رزمندگان ....
۳۲	- د افغانستان د روسي کولو.......
٤۱	- دجهاد د سنګرونو خبرونه
۵٤	- دجهاد فضایل
۵۷	- دحق دلارې قربانیان

الحاج مولانا جلال الدین «حقانی»

د جهاد د فائدینو

او

قوماندانانو لپاره لازمی او ضروری صفات

د قرآن کریم د متعددو آیتونو او د ډیرو زیاتو احادیثو نه دا ثابتیږي چه هغه جهاد چی د اسلام د دښمنانو سره جنگیدل دی د هغو د شر د دفعه کولو د پاره کیږی . دا جهاد له ټولو عباداتو ځخه غوره او افضل دی. مقصد دا دی چه مسلح جهاد په عباداتو کی یو ډیر لوړ او عالی حیثیت لري. که عبادات یو جسم ته ورته او شبیه وګڼل شی نو د توري جهاد یا په بل عبارت مسلح جهاد به دهغه د انتهایی درجی لوړه برخه وي.

د مثال په ډول په یو اوښ کی د اوښ د بدن ډیره وچته برخه د اوښ کا و یاکوهان دي نو جهاد هم د عبادا تود هماغسی انتهایی در جی لوړتیا صفت ګڼل کید لاي شی. یا په بل عبارت جهاد په حقیقت کی د ټولو اسلامی شرایعو د حفاظت لپاره د زغری او یا دباغ د چار دیوال یاد ډال حیثیت لری او بل مقصد دا دی چی په جهاد سره د مسلمانانو ځانونه مالونه او نوامیس د کافرانو د شر او تجاوز ځخه محفوظ او مصئون ساتل کیږي.

بل د جهاد د عزت او عالی منزلت سبب داهم دی چه په دی وسیله مجاهد د الله جل جلاله د رضاء د ګټلو د پاره خپل سر خپل مال اولاد او خپل وطن ـ قربانوی او دا معلومه ده چه دخدای جل جلاله د



الحاج مولانا حقاني د جهاد په یو سنگرکی د یو قوماندان سره د ترصد په حال

رضا په لاره کی له خپل سر مال اولاد او وطن څخه تیریدل یوه عظیمه قربانی ده هغه څوك چه دا قربانی په ځان قبوله کړي د الله جل جلاله له لوړو او مخلصو بنده گانو څخه شمیرل کیږی . هر کله چی جهاد یوه عظیم الشانه قربانی ده نو اجر او ثواب یی الله جل جلاله د نورو عباداتو په نسبت په څو چنده زیات اضعاف مضاعفه مقرر کړی دي لکن په دې شرط چی جهاد په اصلی صورت سره متحقق شی . نو بناءً مجاهدینو او قائدینو ته لازمه ده چه د جهاد د تحقق لپاره د یو شمیر خاصو شرایطو رعایت وکړی او ځانونه په یو شمیر ضروري صفاتو متصف وګرځوي . اول د جهاد د قبولیت د پاره ډیر مهم شرط د مجاهدینو صحیح نیت دی نو باید په جهاد کی د مجاهدینو نیت د دین لوړول او د خدای جل جلاله د رضا گټل وی .

داحقیقت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم له دغه حدیث نه ثابت شوید ی:
عن ابی موسی رضی الله عنهُ ان اعرابیا اتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال یا رسول الله الرجل یقاتل للمغنم والرجل یقاتل لیذکر والرجل یقاتل لیری مکانه وفی روایة یقاتل شجاعة ویقاتل حمیة وفی روایة ویقاتل غضباً فمن فی سبیل الله ؟ فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قاتل لتکون کلمةُ الله هی العلیا فهو فی سبیل الله . متفق علیه .

او دوهم د جهاد دکامیابی او قبولیت د مهمو شرطونو څخه د یوه امراو قوماندان مقرر کول دی چه د قرآن کریم د سوره بقره له (۲٤٦) آیت څخه معلومیږی او هغه دا دی (اذ قالوا لنبی لهم ابعث لنا ملکا نقاتل فی سبیل الله ....) مقصد دا دي چه د هغه وخت مسلمانانو خپل پیغمبرته وویل چه زمونږ د پاره یو بادشاه ود روه چه مونږ د خدای جل جلاله په لارکی د ده ترامر لاندي جهاد وکړو .

دریم : د جهاد د کامیابی او قبولیت د مهمو شرطونو څخه دا دي چه آمر باید د نورو په نسبت ډیر ممتاز

صفتونه ولري چه دهغو شرطونو ته په دی آية کريمه کی اشاره شوی ده.

(قال ان الله اصطفه عليکم وزاده بسطة فی العلم والجسم والله يؤتی ملکه من يشاء والله واسع عليم.)

مقصد دا دي چه الله پاك دوي ته طالوت د آمر په صفت مقرر کړ ځکه چی دی د جنگ په تدابيرو کی په نورو باندي زيات پوه ؤ او دا رنگه په جسمی قوت کی ترنورو زيات و او جسمی قوت چی طبعا د شجاعت امانت ثبات صبر او عدالت ملتزم دی په ده کی موجود ؤ او دا رنگه الله پاك د النساء د سورة په (٥٨) ايت کی فرمايلی دي (ان الله يأمرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها) بيشکه الله تاسی ته امر کوي چی امانتونه خپلو خاوندانو ته يی وسپاري .

د دي ايت کريمه څخه ثابيتيږي چه امارت چه د مسلمانانو د عامه حقوقو يوه عامه اداره ده يولوي امانت دی بايد خپل اهل ته (چه څوك يی لايق وي) وسپارل شی. بل په دی باره کی د نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث هم دی چی ابو ذر ورڅخه داسی روايت کوي : قلت يارسول الله الاتستعملنی قال فضرب بيده علی منکبی ثم قال : يا اباذر انك ضعيف وانها امانة وانها يوم القيامة خزی وندامة الامن اخذ ها بحقها وادی الذی عليه فيها .)

ترجمه : ابو ذر رضی الله تعالی عنه روايت کوی چی ماوويل : ای د الله رسوله ! ايا ما عامل نه مقرروي؟ ابوذر وويل: نو هغه پخپل لاس پراوږه ووهلم بيايی وويل : ای ابو ذره ! بيشکه ته ضعيف يی او هغه امانت دي او بيشکه هغه د قيامت په ورځ رسوا يی او پښيمانی ده مگر هغه څوك چی هغه په حق سره واخلی او د هغه په باب چی کومه ذمه واري ده هغه اداء کړی. او دا رنگه دغه پورتنی موضوع د رسول صلی الله عليه وسلم ددي قول څخه هم ثابتيږي چه فرمايلی يی دي (ايما رجل استعمل رجلا علی عشرة انفس و علم ان فی العشرة افضل ممن استعمل فقد غش الله ورسوله وغش جماعة المسلمين).

هر هغه سړي چه يوسړي پر لسو تنو آمر مقرر کړي او هغه پوه وي چی په دغو لسو کی دهغه څخه بهتر او افضل شته نو هغه د الله او دهغه د رسول او د مسلمانانو د ټولگی سره خيانت وکړ د امانت له ځنو خيانتونو څخه غير اهل ته د امارت ورکول او سپارل دي بل د امارت سره دامر اطاعت کول لازم دی او دا د الله تعالی ددي آيتونو څخه ثابتيږي يايها الذين امنوا اطيعوالله واطيعوا الرسول واولی الامرمنکم (سورة النساء ٥٩ ايت) ای مومنانو! د الله اطاعت وکړي او د رسول او د خپلو اولوالامرو

اطاعت وکړي . دا رنګه الله جل جلاله فرمايلی دي .

ومن يطع الرسول فقد اطاع الله ومن تولی فما ارسلنك عليهم حفيظا(النساء ۷۰ ايت) او ځوك چه د رسول اطاعت وکړي نو په تحقيق سره هغه د الله جل جلاله اطاعت وکړ او چا چه مخ وګرځاوه نو ته مې پر هغو باندی ساتونکی نه يی ګرځولی .

وقوله تعالی (تلك حدود الله ومن يطع الله ورسوله يدخله جنت تجري من تحتها الانهار خالدين فيها و ذلك الفوز العظيم . و من يعص الله ورسوله ويتعد حدوده يدخله نارا خالدا فيها وله عذاب مهين)

دالنساء سوره ۱۳ـ۱٤ آيت) .

ترجمه : دا د الله حدود دي او ځوك چه د الله او دهغه د رسول اطاعت وکړي هغه به په جنتونو کی داخل کړی چه د هغو د ونو او قصرونو لاندی نهرونه بهيږي دوي به په هغوکی هميشه وي او دا لويه کاميابی ده او ځوك چه د الله او دهغه د رسول څخه نافرمانی وکړي او د هغه له حدودو څخه تيري وکړي هغه به (ددوزخ) په اور کی داخل کړي هميشه به په کی وي او هغه ته به سپك کونکی عذاب وي . بل په دغه باب بخاري د حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روايت کوي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلی دی :

(اسمعو واطيعوا وان استعمل عليكم عبد حبشي كان راسه زبيبة) واوري او اطاعت وکړی اګر که پرتاسی يو حبشی مريی امير مقرر کړشی چی دهغه سر د مميز و دانه ګی په شان وي . او دا رنګه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغزواتو څخه پوره واضح ده چه په ټولو غزواتو کی نبی کريم صلی الله عليه وسلم د جهاد قيادت هغه چاته سپارلی دي چه هغه د پوره امانت او عدالت او صبر او قوي عزم او قوي شجاعت اوښی تقوی خاوند ؤ .

د خلفاو راشدينو په عصر کی اووروسته د نورو سلفو صالحينو دستورالعمل هم دا ؤ چه جهادي قيادت به يی هغه چاته سپاره چه هغه به د ذکر شويو صفاتو خاوند ؤ نو دا لازمه ده چه د جهاد دکاميابی او قبوليت دپاره د قائد په انتخاب کی د ذکر شويو شرايطو او صفاتو پوره رعايت وشی نن سبا په دغه جهاد کی چه افغانی مسلمانان په کاميابی سره په مخ روان دي او الله پاك دغه قوم ددغه عظيم الشان سعادت د پاره اختيار کړی دي واجب دی چه د جهاد او مجاهدينو قيادت هغو خلکو ته حواله شی چه په هغو کی پورته ذکر شوي صفتونه تريوه حده پوري موجود وي . د پورته ذکر شوو موضوعاتو په مناسبت غواړو چه څه نا څه هغه صفات چه خدای

جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم او خلفاو راشدینو د جهادي قوماندانانو د پاره دستور العمل اینبودلی دی بیان کړو .

الف ـ (القیادة فی الاسلام تبدأ بالا ختبار العملی لاالنظري) .

مقصد دا دی چه قومانداني او رهبري په اسلام کی په عملی امتحان سره پیل کیږی نه په نظری امتحان سره .

ب ـ (التقوی اساس عقیدة المقاتل وبه یستمد النصر من الله تعالی) .

مقصد دا دی چه د خداي جل جلاله څخه ویره او د حرامو مشتبهاتو څخه پرهیز د مجاهد د عقیدی بنیاد دی . د تقوی د وجود په سبب چه په مقاتل کی وي د الله پاك څخه نصرت مستمد او په برخه کیږي .

ج ـ (ان المقیاس الذی یقاس علیه الرجال العمل الصالح)

مقصد دا دی چه په تحقیق سره هغه امتیاز یا په بل عبارت هغه معیار چی په هغه سره سړي معلومیږي هغه عمل صالح دی حاصل دا دی، چه د قائد عمل دنورو په نسبت ډیر صالح او درست وي .

د ـ (من اشد الامر ضرراً علی وحدة الجیش والامة وجود عناصر التفرقة) مقصد دا دی چه د مسلمانانو د لښکر او اسلامی امت په منځ کی هغه اشخاص چه تفرقه اچونکی وي تنازع او اختلافات د مسلمانانو په منځ کی راولی دا ډیر سخت مضر مرض دی د لښکر د وحدت دپاره او د امت د وحدت د پاره . په قائد او قوماندان باندي واجب دی چه داسی اشخاص د لښکر څخه وشړي او دوي ته په امت اولښکر کی هیڅ ځای ورنه کړي .

ه ـ (علی القائد ان یبین النهج والسیا سة التی سیتبعها فی توجیه مرؤوسیه وان یضع جنده فی الصورة عن الموقف باستمرار)

مقصد دا دی، چه په قوماندان باندی واجب دی چه خپله طریقه او خپل سیاست چی په راتلونکی وخت کی یی اختیار وی د اول څخه خپلو اتباعو او پیروانو ته واضح کړي یعنی خپل موقف او خپل سیاست د همیش د پاره د خپلو لښکرو په مخ کی واضح او ښکاره کړي .

و ـ (یجب علی القائد ان یتخذ اسلوب الموعظة الحسنة والتوجیه السلیم بالنسبة للجندي) مقصد دا دی چه په قائد باندی واجب دی چه د خپل لښکر سره دارشاد او هدایت او موعظه حسنه رویه وکړي او د دوي توجه په ډیره نیکه او سلیمه طریقه سره حق ته راواړوي لکه الله جل جلاله چه رسول کریم صلی

الله علیه وسلم په موعظت حسنه سره مامور کړي دی او نیکه رویه یی د ده له صفاتو څخه شودلی . (فبما رحمة من الله لنت لهم ولو کنت فظا غلیظ القلب لانفضوا من حولك) مقصد دا دی چی الله جل جلاله رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته فرمایلی چی د الله جل جلاله د رحمت په سبب ته دوي سره نرمی کوي یعنی مسلمانانو سره که چیرته ته وای بدخوي او سخت گوی او سخت زړه نو دوي (ستا ملگري) به هرو مرو ستا له چا پیره تار په تار شوي وای .

ز ـ (اذا اراد القائد ان یکون نا جحا علیه ان یبدأ بنفسه ویصلحها ولیکن حکمه علی غیره بمثل حکمه علی نفسه) مقصد دا دی چه کله یو اسلامی او مجاهد قوماندان دا اراده لري چه ده پخپل قیادت کی کامیاب او بریالی وي نو په ده باندي واجب دی چه دي به د ټولو خلکو څخه مخکی د خپل نفس په اصلاح باندي شروع کوي ټول هغه او امر چه دی یی غواړي چه په بل چایی تطبیق کړي اول یی په خپل ځان باندي تطبیق کوي . حتی چه نور خلك د ده په عمل پسی اقتدا وکړي .



مولوی نظام الدین « حقانی » د جهاد په یوسنگر کی

ح ـ (على القائد ان يحافظ علي الصلوة فى او قاتها حتى يكون قدوة لغيره من مرؤوسيه) مقصد دا دي چه په قوماندان باندي واجب دي چه دی به محافظت کوي په خپلو لمونځونو باندي په جماعت اوتړولو شرايطو او ارکانو سره پخپلو او قاتو کی حاصل دا دي چه دي به د لمانځه په امر باندي ډير زيات اهتمام کوي ددي دپاره چه دي د خپلو پيروانو د پاره بو مقتدا وګرزي.

ط ـ (اكرام رسل العدووالحذ رمنهم وعدم الاساءة اليهم)

مقصد دا دي چه په قائد او قوماندان باندي واجب دی چه د دښمن د قاصدانو به احترام کوي او هم به د دوي څخه ويره او احتياط کوي ډير وخت به يی په لښکر کی نه پريږدي چه د لښکر د احوالو څخه يا دلښکر د ضعف څخه خبر نشي او بی ادبی او ضرر به هم نه ورته رسوي ځکه چه بيا مسلمانان د دوي په مخ کی بداخلاقه او سپك ښکاري.

ي ـ (المكتومية عامل من عوامل بقاء الجيش وسلامته)

مقصد دا دي چه په قائد او قوماندان باندي واجب دي چه خپل سراو راز به پټ ساتی اسرار به نه افشاکوي نو د راز ساتنه د لښکر د دوامدار او سالم پاتی کيدلو لويه وسيله ده.

ك ـ (انزال الضيف فی المكان الذي يرمز الی القوة لا نه سينقل الصورة التی شاهد ها)

مقصد دا دي چه په قوماندان باندي واجب دي چه هغه ميلمانه چه ددښمن د طرف څخه راځی دوي به د لښکر په داسی حصه کی ديره کوي چه دوی ته دهغه څخه د لښکر ډير نظم او دسپلين او قوت ښکاره شی ځکه چه زر ده چه هغه ميلمه به هغه صورت چی ليدلی دي دښمنانو ته هو به هو نقل کړي نو دا به د دښمنانو په زړوکی خوف او رعب پيدا کړي.

ل ـ (على القائد ان يتولی مخاطبة المفاوض من قبل العدو او الزائر)

په قوماندان باندي واجب دي چه دي به دهغو اشخاصو د خبرو ذمه واري پخپله غاړه اخلی چه ددښمن د طرف څخه د مصالحی د پاره راغلی وي او يا د دښمن د طرفه کوم زائرين قائد ته راغلی وي ددوي مخاطبه به بل چا ته نه حواله کيږي ځکه چی د ده مخاطبه او کلام به په دوي باندي ډير موثر واقع شی .

م ـ (المشورة اصل فی نجاح الامور وهی القاعدة المتينة التی يبنی عليها القائد خطته)

مقصد دا دي چه د آمر او قوماندان مشوره کول د خپلو اتباعو سره د امورو په کامیابی کی یو عظیم اصل دی او مشوره یوه متینه قاعده ده هغه متینه قاعده چه قائد به په هغی بلاندی خپل پلانونه بناکوي مقصددا دي چه که چیري قائد مشوره نه کوي نو دده پلانونه به بی بنیاده وي.

ن - (ان سلامة الجیش منوطة بوعی القائد وسهره المتو اصل ویقظته الدائمة لیلا و نهارا)

مقذد دا دي چه په تحقیق سره د مسلمانانو د لښکر سلامتیا د قوماندان په ښه پوهه او ښه تدبیر او په متواترې بیداري او شپه او ورځ د ده په ویښ والی سره تړل شوې ده. ځکه چی قائد د خپل جیش د پاره د یوه انسان دعقل حیثیت لري نوچی انسان کی عقل موجود وي انسان سالم وي او که د ده عقل زائل شی نو انسان د هلاکت سره مخا مخ کیږي. یا قائد د خپل فوځ د پاره د سترګو حیثیت لري نو دانسان سترګی چه بیدارې وي انسان سالم وي او که چیري د انسان سترګی ړندې وي او په ړو سترګو رفتارکوي نو د هلاکت کندې ته لویږي.

س - (من واجبات القائد تفقده الحرس فی اما کنهم بغیر علم منهم عن اوقات التفتیش)

مقصد دا دي چه د قوماندان د واجباتو څخه دا خبره هم ده چه دي به د خپلو پیره دارانو تفتیش پخپلو وظیفو کی کوي بدون د دوي د علم څخه په اوقاتو د تفتیش دده باندي.

ع - (القائد الناجح یحقق العدل بین جنوده فی الوظایف اللیلیة والطوابیر).

مقصد دا دي چه په قائد باندې چه پخپلو کارونوکی بریالی وي دا واجب دی چه دی به دخپلو لښکرو ترمنځ د شپې وظائفو او دهغو د قطارونو د تنظیم او همدا راز د نورو حقوقو په باب اداری له حیثه له عدالت څخه کاراخلی.

ف - (علی القائد ان یوقع العقوبة للمستحق ولایخشی فی ذلك لومة لائم)

مقصد دا دي چه په قائد باندي واجب دی چه مجازات کړي هغه څوك چه مستحق د جزاوي اوونه ویریږي په مجازات کولوکی د ملامتی د ملامت کونکو څخه یا د عصیان د مجرمینو څخه

ص - (من صفات القائد التریث والصبر وعلیه ان یسمع بمدافعة المشتکی علیه)

مقصد دا دي چه د بعضو لوازمو او صفاتو د قیادت څخه په جزا ورکولو کی تاخیر او صبر کول دی او هغه چا ته چه ورڅخه شکایت کوي د مدافعی موقع ورکړی.

ق ـ (من واجبات القائد ان يتفقد شؤون جنده ويسأ لهم عن حوائجهم)

مقصد دا دی چه د قائد د بعضو واجباتو څخه دا ده چه دي به دلښکر د احوالو او چارو پلټنه کوي او دهغو د حوائجو پوښتنه به کوئ او د هغو حاجتونه به ترسره کوي .

ر ـ (اذا تجسس القائد على جنده لمصلحة نفسه افسد هم و غرس الريبة فى نفوسهم)

مقصد دا دي چی کله یو قائد او قوماندان د خپل ځان د مصلحت د پاره پرخپل لښکر تجسس کوی نو هغوي به فاسد کړي او دهغوي په زړونو کی به شك او عدم اعتماد پیدا کړی نو قوماندان ته د داسی اعمالو څخه اجتناب واجب دي .

ش ـ (على القائد ان يحافظ على المستوى الدينى والخلقى بين جنوده)

مقصد دا دی چه په قائد باندې واجب دی چه د خپل لښکر د دینی او اخلاقی سویی او سطحی ساتنه وکړي .

ت ـ (ان مجلس القائد يجب ان يكون مميزا عن غيره من المجالس) .

مقصد دا دي چه په امرینو باندي واجب دی چه د نورو څخه د دوي کښینا ستل فرق ولري ددې د پاره چه خلك په پوره کولو د خپلو حوائجود مشکل سره مخا مخ نشی او د ده په مقابل کی سؤ ادب ونه شی .

او ژرده چه انشاء الله د رسالی په بله ګڼه کی د مجاهدینو او قوماندانانو ځینی صفات او شروط چه دوي ته لازم دي نشر کړو .

قائد دخپل جیش د پاره دیوانسان د عقل حیثیت لری نو چی انسان کی عقل موجودوی انسان سالم وی .

مولانا بشار

د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم جهادی رسالت

د دی د پاره چی لوی او مهربان خدای د انسان له وچولی څخه د بت پرستی دباطلی سجدی گرد ، له سترگو څخه ئی د جاهلیت توری پردی ، له غوږونو څخه ئی د حق دنه منلوخیری ، له دماغ څخه ئی د ناوړوافکارو او فاسدو خیالاتو مهلك موجونه ، له خولی اوژبی څخه ئی دبتانو باطل ذکر او صفت ، له اوږو څخه ئی دگناه او ناروا درووند پیټی، له زړه څخه ئی د حسد او عداوت سکروټی او خرابی خاطری ، له غاړی اوپښو اولاسونو څخه ئی داسارت اوغلامی زنځیرونه اوله ټول ځان څخه ئی د باطل او فساد هیولا او د ذلت او شقاوت څادر لری کړی او هغه ته دنیوی او اخروی سعادت ، دمادی او معنوی قوت او د فردی او اجتماعی مسئولیت دښه اداء کولو لاری وښیی او یا په دی منظور چی هغه دځپل موجودیت اوژوند ټول اړخونه اواړیکی وښیی یعنی دهغه اړیکی دځپل ځان سره چی څرنگه د ظاهری شکلی صورت اوجوړښت او د باطنی او معنوی ښومواهبو او استعدادونو له مخی یو ممتاز مخلوق او دځمکی پر مخ د خلافت د مقام او مسئولیت لرونکی دی ، دهغه اړیکی د واحد لاشریك الله سره چی څرنگه هغه د کامله قدرت اوبالغه حکمت د خاوند او د ټولو کائناتو دخالق او مدبر په حیث وپیژنی او یوازی همدغه الهی ذات ته د عبادت او اطاعت غاړه کښیږدی او دهغه د احکامو او هدایاتو په اساس ژوند او عمل وکړی ، او دهغه اړیکی دځپلو انسانی همنوعو او بیا په خاصه توگه د ځپلو مسلمانو ورونو

سره چی ددوی په باب دحقوقو داحترام او د اجتماعی معاشرت او تعامل څه مسئولیتونه او مکلفیتونه لری او دهغه اړیکی داسمانی او ځمکنی کائناتو او موجوداتو د اسرارو اوښیګڼو سره چی څرنګه ورڅخه دحق او عدالت ، خیر او مصلحت دموازینو او معیارونو په اساس دځان او د نورو خلکو دښیګڼو او هوساینی په غرض ورڅخه استفاده وکړی.

هماغه ؤ چی دغه الهی ذات ددغه لار ورکی او سر بداله انسان د هدایت او سعادت او د باطل پرستی او ناروا له قیود اتو څخه دهغه د ازادی او نجات په منظور دخپلو پیغمبرانو د سلسلی په آخره کی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ئی رحمة للعالمین پیغمبر ولیږه او دهغه د رسالت کتاب (عظیم الشان قرآن) ئی چی دعلومو او معارفو خورا لویه ذخیره او د انسانی افرادو اوټولنو ددنیوی او اخروی سعادت او کامیابی یوازینی لارښود او متکفل وښود نو هماغه ؤ چی دغه الهی رحمة للعالمین پیغمبر د باطل پرستی ، ظلم او ناروا په مقابل کی په قوی ایمان ، کلك عزم ، پوره اخلاص ، کامل صداقت او ښه امانت دانسان دهدایت او سعادت په منظور دخپل رسالت تبلیغی او تعلیمی جهاد په غاړه واخیست او دلار ورکی او سر بداله انسان د پاره دخیر او نجات لارښود او دژوندانه په ناپایابه او طوفانی سمندر کی د نجات او امان ساحل ته د بشریت دکشتی راښکود وګر ځید.

دا ښکاره خبره اومنلی موضوع ده چی انسانی افراد دفطری عقلی او علمی استعدادونو له مخی یو شانته او په یوه سویه او درجه نه دی او د پوهانو په څنګ کی ناپوهان شته او ناپوهان هغه کسان دی چی مادی شیانو او دنیوی متاع اوښکلا ددوی د بصیرت پرسترګو پردی اچولی اود دوی د زړونو پرمخ ئی د معرفت او تشخیص لاری او د رښا ګړکی او مدخلونه بند کړی او دحق د دعوت او تبلیغ دښمنان ئی ګرځولی دی. همدغه واقعیت دی چی د مکی مشرکانو او د حق منکرانو ددغه الهی پیغمبر د دعوت او تبلیغ په مقابل کی دناپوهی او دحق او باطل دتمیز د قوی په فقدان (نه لرلو) دخپلو دنیوی او مادی ګټو او مقامونو له امله دښمنانه او خاصمانه دریغ غوره کړ او دهغه دتبلیغی او تعلیمی جهاد په مقابل کی له پروپاګندی وسلو څخه کار واخیست یعنی کله به ئی هغه ته شاعر، کله به ئی ورته مجنون، کله به ئی ورته ساحر او کاهن او کله به ئی ورته یو څه او کله به ئی ورته بل څه ویل او

بیا چی د حق دغه منکران او دښمنان په دی وپوهیدل چی دحق د دعوت او تبلیغ مخه نشی نیولای او ورځ په ورځ دهغوی مادی او دنیوی غرضونه او مقاصد دخطر سره مخامخ کیږی او دهغو دتکبر او غرور برجونه مخ په نړیدلو کیږی او کوم کسان چی دهغوی زړونه ددغه الهی پیغمبر د دعوت او تبلیغ په وسیله د حق په پلوشو روښان او د حق ریښی پکی خښی شوی او دحق د معرفت د جذبو اوبو خړوبه کړی دی دوی هیڅکله او په هیڅ ډول له خپلی ایمانی عقیدی او اسلامیت څخه لاس اخیستونکی نه دی او په ربړولو اوځوروڵو سره لا خپل ایمانی ثبات او استقامت ښیی او دحق د محبت جذبه ورځخه دهر ډول تکلیف او تعذیب احساس له منځه وړی نو هماغه شو چی د کفر او شرك ظالمو عناصرو د الهی پیغمبر او دهغه د پیروانو په ربړولو پیل وکړ ، ددی پرځای چی الهی پیغمبر ته ـ چی د حق مشعل ئی په لاس او لارورکی انسان ته دهدایت او سعادت لاره ښیی ـ په ښه سترګه وګوری او دخبرو ئی منڼه وکړی دغو کفری او عنادی عناصرو ورته په لاره کی ازغی اونور ضرری شیان اچول ، او کله چی به دغه رحمة للعالمین پیغمبر او دهدایت او سعادت لارښود خپل مولی رب العالمین ته په لمانځه او عبادت دریده نوپرسر او اوږو باندی به ئی دځاروی زادان (هغه کڅوړه چی په هغی کی دځاروی بچی نغښتی وی) اچوه او یا به ئی دهغه پرسر دغتی ډبری په غور ځولو سره ، دهغه دوژلو هڅه کوله ولی الله تعالی دهغه حافظ او ناصر ؤ او دهغه د رسالت تکمیلونکی او سرته رسونکی ؤ .

« یریدون ان یطفؤا نور الله بافواههم و یابی الله الا ان یتم نوره ولو کره الکفرون » (التوبة ـ ۳۲)

داهم په دغه باب د شاعر وینا :

« واذا العنایة لا حظتك عیونها ـ فنم وکل المخاوف لك امان » بیا کله چی دحق منکرانو او دښمنانو پخپلو ناوړو تبلیغاتو او ظالمانه ؤ تیریو سره دالهی پیغمبر د تبلیغی جهاد مخه و نشو نیولای نو بیا دغه الهی پیغمبر ئی دخپلو کورنیو د غړو او خپلوانو سره نژدی دری کاله د ابو طالب په دره ـ (شعب ابی طالب یا وادی ابی کنا نه) کی محاصره او بندی وساتل او دهغو څخه ئی د صله رحمی ټولی اړیکی پریکړلی او پرهغوی باندی ئی د مرستی او د ارتزاقی موادو او تجارتی معاملاتو لاری بندی او وتړلی .

بیا کله چی الهی پیغمبر له دری کلنی محاصری څخه ووت نو دپخوا په شان ئی خپل تبلیغی جهاد

بیا پیل کړ او دحق منکرانو او دښمنانو ته دعقیدوی تهذیب او د حقوقو او انسانی کرامت د احترام او د اخلاقی فضایلو او د معاشرتی ادابو د مراعات کولو ناصح شوولی مشرکانو دخپلو عقایدو او دنیوی مقاصدو دخوندی کولو په غرض دالهی پیغمبر سره د خپل نماینده په وسیله خبری وکړی او له هغه څخه ئی غوښتنه وکړه چی دوی ته او ددوی د بتانو په باب انتقادی خبری ونکړی او دوی ته د ناپوهی او غلطی نسبت ونکړی ولی الهی پیغمبر چی د انسان هدایت او سعادت دهغه د رسالت ستر هدف ؤ او هغه په صداقت او امانت دخپل تهذیبی او اصلاحی رسالت سرته رسونکی ؤ د باطل پرستانو د مادی او دنیوی متاع او مقام وعدو دهغه د تبلیغی جهاد پر دریغ هیڅ اغیزه ونکړه بلکی لائی د حق د تبلیغ په جهادی لاره کی خپل زیات ثبات ، استقامت او مداومت وښود او د انسان دهدایت او سعادت په منظور دحق د دښمنانو دظالمانه هلوځلو په مقابل کی ئی له صبر او تحمل ، ثبات او استقامت څخه کارواخیست.

بیا چی د حق منکران په دی وپوهیدل چی دخبرو او روغی جوړی دلاری کامیاب نشول او خپل باطل مقصد ته ونه رسیدل او ورځ په ورځ ئی دخپلو ابائی او اجدادی موروثی عقائدو او د دنیوی جاه او مقام د زوال احساس کا وه نو داځل د دغه الهی پیغمبر تره (ابو طالب) ته ـ څنگه چی پخواهم څوځلی یی ورڅخه د خپل وراره د منع کولو غوښتنه کړی وه ورغلل او ورڅخه یی دخپل وراره (حضرت محمد صلی الله علیه وسلم) د منع کولو غوښتنه وکړه الهی پیغمبر ته چی په دغه وخت د خپل تره مدافعوی دریغ کمزوری ښکاره شو او ورڅخه ئی څه ناامیدی وکړه نو ورته ئی په قوی ایمان او کلك عزم داسی اعلان او خطاب وکړ!

« یا عم ! والله لو وضعوا الشمس فی یمینی والقمر فی یساری علی أن أترك هذا الأمر ما ترکته حتی یظهره الله أو أهلك دونه»

ای تره! په الله سوگند، که دوی وکولای شی چی لمر زما په ښی لاس اوسپوږمی زما په کیڼ لاس کی کښیږدی او دا ددی د پاره چی زه خپل ماموریت پریږدم نو زه به هیڅکله له خپل کار څخه لاس وانخلم ترڅو چی الله هغه غالب کړی او یازه دهغه په لاره کی هلاك کړل شم.

بیا چی کفارو او مشرکینو دخپلو باطلو معبودانو او باطل عبادت او دنیوی جاه او عزت په باب د الهی پیغمبر د تبلیغی جهاد له امله د بیغمی فضا ونه لیدله او الهی پیغمبر لا دخپل تبلیغی جهاد په لاره

کی پوره ثبات او مداومت ښوده او ددوی پر عقائدو او عملونو ئی د بطلان کرښه راښکله نو هماغه شو چی د کفر او شرك طواغیت او صنادید (مشران) په دارالندوه کی سره غونډیږی او دالهی پیغمبر د دعوت او تبلیغ د مخنیوی اوله منځه وړلو په باب نظریی څرګندوی او پریکړه کوی!

د باطل پرستانو او طاغوتی مشرانو غونډه جوړه شوه، چا په کی دالهی پیغمبر د بندی کولو، چا په کی د الهی پیغمبر د تبعید (له مکی څخه د هغه د شړلو اوویستلو) او چا په کی د الهی پیغمبر دوژلو خبره وکړه. ولی دغونډی د حاضر کسانو ترمنځه چی د الهی پیغمبر په باب خبری ردی بدلی شو او هر چا خپل دلائل وړاندی کول دریمه نظریه چی د ابوجهل (عمرو بن هشام) لخوا وړاندی شوه ومنله شوه او ټول دهغی د عملی کولو په هڅه کی شول مګر څه چی الله غواړی هغه کیدونکی دی او دهغه اراده پرټولو ارادو غالبه او حاکمه ده .

«وما تشاءؤن الا ان یشآء الله رب العالمین»

الله تعالی د حق د منکرانو او دښمنانو د ظالمانه پریکړی څخه داسی یادونه کوی!

(واذیمکر بك الذین کفروا لیثبتوك او یقتلوك او یخرجوك ویمکرون ویمکر الله والله خیر الماکرین»
(الانفال ـ ۳۰)

او یاد کړه (ای محمده!) هغه وخت چی کافرانو تاسره فریب کاوه ددی دپاره چی دوی تابندی کړی ، یاتاووژنی ، یا تا (له مکی څخه) وباسی او دوی (تاسره) فریب کوی او الله دوی ته دفریب سزا ورکوی او الله خوراښه دسزا ورکونکو دمکر دی همغه ؤ چی الله تعالی پخپل لطف او عنایت خپل پیغمبر ددښمنانو له پریکړی څخه خبر او ورته ئی له مکی څخه مدینی ته دهجرت حکم وکړ . بیا هماغه شو چی الهی پیغمبر د خپل رب په امر دهغه د حفاظت او رعایت په سیوری کی ددښمنانو له منځه چی د ده دکور د دروازی تر مخه د تورو سره قطار ولاړ ؤ روغ رمټ وځی ، دری شپی (د جمعی ، شنبی او یکشنبی) په غار ثور کی تیروی او بیا دخپل ملګری (ابو بکر الصدیق رضی الله تعالی عنه) سره د مدینی په لوری د هجرت لاره نیسی او داتو ورځو مزل څخه وروسته ددوشنبی په ورځ قبا ته رسیږی ، په قبا کی څلور ورځی (دوشنبه ، سه شنبه ، چهار شنبه او پنجشنبه) ستنیږي او په کی داسلام د دینی شعار لومړنی مسجد جوړوی ، بیا د مدینی په لوری روانیږی او د جمعی لمونځ د خپلی لاری په مسیر کی دبنو سالم بن عوف په ځای کی کوی او بیا د مدینی موجوده مسجد ځای ته

نژدی د مسجد او دکورونو د جوړولو تر وخته د ابوایوب انصاری (رضی الله تعالی عنه) په کور کی هستوګنه کوی ، بیا ددو ؤ یتیمانو په ځمکه کی مسجد جوړوی او د مسجد دځمکی قیمت (۱۲) دیناره ورکوی . یتیمان دوه ورونه ؤ چی سهل او سهیل نومیدل او دا سعد بن زراره په کفالت او رعایت کی ؤ . الهی پیغمبر مسجد د الله تعالی دذکر او عبادت ځای او د دینی تعلیم او زده کړی مدرسه ګرځوی ، دانصارو او مهاجرو تر منځه د اسلامی ورورولی اړیکی پیداکوی ، او بیا دمسلمانانو او د نورو ادیانو او مذاهبو دخاوندانو تر منځه دسولی او دګډ ژوند تړون کوی او د اسلامی دولت او اسلامی سنګر بنسټ ږدی او د اسلام شان او شوکت پورته کوی .

بیا چی مسلمانان د قوت او دولت او دښه شان او شوکت خاوندان شول او ددوی :

دکمزورتیا حالت په قوت ،

دځانګړیتوب حالت په اجتماعی موجودیت ،

دتشویش حالت په اطمینان او حریت ،

او دتشتت حالت په انتظام او دولت بدل شو او د شرك او ظلم له تیاره او خپه کونکی فضا څخه د اسلام دحق او عدالت د دولت په روښانه فضا کی شول او ټول د الهی پیغمبر تر قیادت لاندی متحد عناصر او د دښمن د پاره یو صف اویولاس وګرځیدل نو بیا دالله تعالی د حکمت او مصلحت اراده دا شوه چی د باطل پرستانو دظلم او ناروا مقابله په عملی توګه وشی ، دهغو د جاهلیت دتکبر او غرور برجونه پرځمکه نسکور شی او دهغو د شرارت او فساد اوورونه مړه شی او دظلم او ناروا عاقبت او نتیجه ووینی او د باطل پرځای حق او حقیقت ، د ظلم پرځای انصاف او عدالت ، د شر اوفساد پرځای تقوی او فضیلت منځ ته راشی او د انسانی کرامت او حقوقو احترام وشی نو دجهاد حکم د سیف آیت نازل شو او حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو د جهاد حکم ته لبیك وویل او په حقه لاره کی د سر او مال قربانی ته حاضر شول .

داؤ په مکی دور کی دالهی پیغمبر دیارلس کلن تبلیغی جهاد چی ورڅخه په لنډه توګه یادونه وشوه او هر څه چی په مدنی دور کی دهغه د توری جهاد دی او د جهاد له لاری جزیرة العرب (عربستان) ئی له شرك ، ظلم ، فساد ، دښمنی او ناروا څخه پاك کړ او د نړی والو د هدایت د پاره ئی داسلام دحق دین د خپریدلو مرکز وګر ځاوه نو له هغه څخه به که خدای کول په بله ګڼه کی یادونه وشی

(وماتوفیقنا الا بالله إنه نعم المولی ونعم النصیر)

مولوی عزیز خان د منبع العلوم
د مدرسې صدر

په افغانستان کې

د جهاد لومړنۍ عملیات او د کمونستانو په مقابل کې د علماو پاڅون

بسم الله الرحمن الرحيم

ان الحمدلله الذى هدانا للاسلام و شرفنا فى هذا القرن الشريربتولية الجهاد والعلم والصلوة والسلام على رسول الله الذى وضع قاعدة الجهاد والعلم وعلى آله وصحابته الذين ضحوالدماء لاستمرار الجهاد و عمران العلم و بعد !

د الله (جل جلاله) همدغه طريقه محموده ده چې د هر باطل او خيانت په مقابل کې په هره زمانه کې حق او امانت پيدا کړي چې په هغه باندې باطل محوه او زائل کړي . او هر کله چې د کفر او جهل تيارې د خدای په يوه ځمکه وغوړيږي هغه الله تعالى د تورې په بريښنا او د علم په رڼاتل تولي کړي . همدغه پورتنی حقيقت الله تعالى په لاندې دوه آيتونو کې د مسلمانانو جامعې ته وړاندې کړي : اول آية دا دی چې : (ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعض لفسدت الارض) دويم آية دادی چې : (وقل جاءالحق وزهق الباطل ان الباطل کان زهوقا) . اسلامی تاريخ کې هم ذکر شوی حقيقت په تيروامتوکې او زمونږ په امت کې په تجربه او تکرار سره تثبيت کړی ، بناپه همدغه باندې هر کله چې روسانو د امان الله په واسطه د

افغانستان په ثقافت تجاوز وکړ او د معارف دروازی د ظاهر شاه او داؤد په ذریعه د دوی په مخ خلاصی شوی او د افغانانو بچیان یی د کمونیزم او دهریت په زهرو د ترکی او ببرك په وسیله پیچ کاری کړل او عام افغانان بی شعوره او د غفلت په خوب ویده پاتی شول نو په داسی حالاتو کی له یوطرفه د علماؤ د یو برجسته قاید او روحانی رهبر حضرت صاحب ضیا المشائخ محمد ابراهیم المجد دی په اراده او دهغه ترپاملرنی لاندی د هغه مشرزوی حضرت محمد اسمعیل المجددی د خدام الفرقان په نامه یوگوند جوړ او منظم کړ چی هغه کی لوی عالمان لکه مولوی نصرالله منصور او یو زیات شمیر معتقدو او مومنو زلمیانو عضویت درلود . دی تحریك د خدام الفرقان په نامه یوه مجله هم خپروله چی موضوعات یی د کفر او الحاد مخنیوی او د مرتدو عناصر و بیرته اسلام ته دعوتول و و . دی سره یوځای ځینو نورو مؤمنو مبارزینو هم چی لوړ اسلامی احساسات یی درلود له لکه مرحوم نیازی او حکمتیار صاحب زمونږ د تاریخ یوه حساسه مرحله کی خپل اسلامی مسوولیتونه درك کړل او د یو اسلامی سیاسی تحریك سره یی د کمونستانو په مقابل کی کلك جهاد او مبارزه شروع کړه او له ځینو علماؤ وسره یی تماسونه ونیول او د ځینو خلکو د اسلامی ضد فعالیتونو په ضد د مبارزی په باره کی یی د علماؤ سره مشوری وکړی خو علماؤ په دی چی ویل به یی د چاچی پلار مسلمان او موریی، مسلمانه او معلم یی مسلمان وی او د اسلامی دولت دانشکده کی یی زده کړه کړی وی څرنگه کیدای شی چی یوبچی یی د کفر او الحاد په عقیده وروزل شی . همدغی موضوع ته تر هغه وخته پوری د شك او شبهی په سترگو کتل کیدل څو چی کمونستانو په یوه جریده کی په لینن علیه اللعنة د رودولیکه او د فعال او خلاق صفات چی د الله تعالی فعلی صفات دی لینن منحوس ته وریاد کړل هماغه و چی د افغانستان علماؤ مشایخو او ورسره غربیو عوامو په سراسر افغانستان کی عمومی قیام او مظاهره وکړه خوله یوی خوا په علماؤ اصلی وخت تیرؤ او له بلی خوا خائن وراسته او د روسانو د لاس آله حکومت د علماؤ هلی ځلی او مطالبی د یوی میاشتی په موده کی چپ او ترپښو لاندی کړی . علماؤ ته د حکومت له طرفه د کر کی او نفرت په سترگو کتل کیدل او تر مراقبت لاندی ونیول شول کله چی لیونی داؤد د روسانو په هلو ځلو د قدرت واگی په افغانستان کی ترلاسه کړ د دهشت نفرت او د پولیسو د تعقیب او ځارنی کړی چی پکی دده له خوا علما او مسلمان محصلین محاصره شوی وولا ورپسی تنگی شوی . که اسلامی تاریخ ته نظر واچول شی همدغی نتیجی ته به ورسیږو چی په

هرقرن کی اسلام په خپله غیرت کی همدغسی بچیان روزلی دی چی مشاعر یی د ایمان علم جهاد قربانی له حماسی څخه ډك او د اسلام له حریمه څخه یی په پوره ایمان اخلاص او متانت سره دفاع او کفاح کړی او په لکونو زلمیان یی د جهاد او فداکاری په روحیه سنبال او مجهز کړی له دغو فداکارو اسلامی بچیانو څخه په روانه پیړی کی زمونږ په هیواد افغانستان کی په دغو ټولو صفاتو باندی دموصوفو شخصیتونو نه مولوی جلال الدین (حقانی) ژوندی او ځلاند مثال دی چی ژوندیی جهاد معاشره یی علم فکریی د اسلام له مقدساتو او د وطن نه دفاع دی . که څه هم حقانی صاحب شهرت ته احتیاج نه لری او د مدحی وړی تږی نه دی لکن بیاهم چی د لیکوال په زړه کی څه گرځی هغه ضرور د قلم په څو که تثبیتیږی . کله چی لیونی داؤد د افغانستان له راډیو څخه د جمهوریت اعلان وکړ حقانی صاحب د ځدرانو د (نکی) په منطقه کی د جهاد اعلان وکړ او بیرغ یی و چت کړنولو ډسپیکریی را واخیست او ځینی علماؤ او طلبأ ورسره ملگری شول او په حرکت یی پیل وکړ ، مگر حکومت په ډیره بیړه او پوره زر کی سره د حقانی صاحب د حرکت مخه د قومونو په واسطه ونیوله . حقانی صاحب د علنی جهاد په ځای مخفی جهاد شروع کړ او زه هم د حقانی صاحب په غوښتنه د گوملی

له ولسوالی څخه چی زما خپل وطن وسپیری ولسوالی-(زیړوك) ته د تدریس په بهانه راغلم او حقانی صاحب (نکی) ځدرانو ته یوه شپه وغوښتم او هلته یی د مولوی احمد گل صاحب مخکی (چی هغه بیا وروسته په شهادت ورسید) د اسلامی تحریك له پوره پلان او پروگرام نه خبر کړم او و یی ویل چی یو زیات شمیر علما او پوه زلمیان غواړی چی په سرکی یی حکمتیار صاحب واقع دی چی په افغانستان کی اسلامی حکومت جوړ او د کفر الحاد او کمونیزم مخه ونیسی . زه په همدی خبره زیات خوشحاله شوم ځکه چی د اسلامی حکومت قایمول او د دهریت مخه نیول زمونږ زوړ آرمان او قدیمه آرزو وه ، بیا حقانی صاحب مونږ ته هدایت وکړ چی ته ، مولوی احمد گل او مولوی فتح الله (چی هغه هم بیا وروسته شهید شو) او مولوی شیر محمد او نور څو ملگری د مطیع الله خان (چی اوس شهید شوی) په مشری پیښور ته د حکمتیار صاحب د ملاقات لپاره ولاړ شی د حقانی صاحب د هدایت سره سم پیښور ته راغلو زمونږ د رسید وسره سم حکمتیار صاحب مطیع الله خان ته قومانده ورکړه چی دارگون سیمه کی سم له لاسه د کمونستانو په ضد جهادی عملیات شروع کړی او مونږ د نورو ورونو او قاضی صاحب محمد امین وقا د سره یو ځای د ځینولو مرنی تدارکاتونه وروسته بیرته راغلو او حکمتیار صاحب مونږ ته

ځینی لنډ پروګرامونه را کړل . او بیا د نورو پروګرامونو سره بیرته وطن ته را رخصت شو . کومه شپه چی زمونږ په میرانشاه کی وه په عین شپه د تحریك اسلامی ملګریو د زیړوك په محیط کی د (منځ کی) په نری کی یولږ عملیات وکړل چی په نتیجه کی څو کمونستان له منځه ولاړل او په ننګرهار کی د ولایت په سویه پراخ عملیات وشول خوله بده مرغه په نور افغانستان کی چپه چپیاوه . بیانو حقانی صاحب یو څو نور وړونه د مولوی نصرالله منصور په شمول د ځدرانو د شمل غرونو کی راټول کړل یو دوه هفتی یی څه مقاومت وکړ خولدی وجهی چی د جهاد شرایط هم هلته برابر نه ووحقانی صاحب سره له خپلو ملګریو پاکستان ته هجرت وکړ . دا په حقیقت کی د افغانستان څخه د مسلمانانو د هجرت اول کاروان ؤ چی د اسلام په لاره پاکستان ته راغلل بیا د اسلامی تحریك غړی ورځ په ورځ مخ په زیاتید و وو په هر ولایت کی یو څه تعداد علماؤ زلمیانو او مبارز مسلمان محصلینو د اسلامی تحریك له کاروان سره ځانونه یو ځای کړل ، بیا کله چی روسانو په افغانستان کی (۱۳۵۷) کال د ثور په میاشت کی د یوی کودتا په نتیجه کی خلقیان او پرچمیان قدرت ته ورسول هغه شپه می نه ده هیره چی زه او قاری صاحب شاه د (زیړوك) په یوکلی کی د ملك محمد میر په کور کی د جمعی په شپه میلمانه وو د کابل راډیو څخه د ملی سرو د په منځ کی د ډګروال عبدالقادر او جګړن اسلم وطن جارله خولی موهمدغه اعلان واوریده چی خلکو شملی جګی کیږدی د نادر د کورنی ټغرد ټل لپاره له افغانستان څخه ټول او حکومت د خلکو لاس ته ورغی باور وکړی هغه ډوډی موونه خوږه د طالبانو تدریس معطل کړی شو د زیړوك په منطقه کی چپه چپیاوه خلك دومره خفه و چی یوبل نشوای سره غږید لای د حقانی صاحب له طرفه څخه پټ خبر را کړ شو چی د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشتی د غوایی له کودتا څخه شپږ ورځی وروسته د شمل لوګراو د کابل په استقامت او په مشرقی افغانستان کی جهادی عملیات شروع شو او هدایت یی را کړ چی مونږ هم باید د زیړوك په علاقه کی د لوډ سپیکر په واسطه د جهاد او عمومی قیام اعلان وکړ و د هغی میاشتی د یار لسمه شپه وه چی د علمی په کلی کی یو سپین ږیری چی نور محمد نومیده مړشو په همدغه شپه کی می کلیوالو ته صراحتاً د قرآنکریم په منځ کی همدغه خبره وکړه چی هغه وخت راغی چی په افغانستان کی جهاد فرض او حکومت د کفارو ملحدینو مرتدینو لاس ته ورغی او مونږ او تاسو به څه انتظار وکړو هر کله چی اعلان د جهاد و شی لازم دی چی فوراً لبیك ورته ووایو . کلیوالو

تعهد وکړ . کله چې سبا ورځ د زیړوك ټول خلك حضیری ته راغلل د جنازی له لمانځه څخه وروسته او د مړی له ښخیدلونه مخکی حاجی ملا محمود او حاجی شایست راته وویل چې نن د ورځی په څلور و بجو زمونږ نیته ده چې د جهاد اعلان وکړو د هغه ټاکلی وخت یعنی له څلورو بجونه همدغه اوس په حضیره کی د قبر په سر ددی اعلان لپاره ډیره ښه زمینه مساعده ده ځکه چې د زیړوك خلك ټول یو ځای دی د دوی نظر سره زما نظر یو راز نه ؤ زما دا فکر و چې هر کار باید د ټاکل شوی پلان سره مطابقت ولری خوسره ددی هم ددی لپاره چې ددوی د جهاد احساسات زیا نمن نه شی دا تصمیم می ونیو کله چې ماته غږ را وشو چې مولوی صاحب د قبر کار خلاص دی راشه وعظ او نصیحت وکړه نو قبرته روان شوم دا فکر هم را سره ؤ چې که د جهاد اعلان پلان شوی وخت ته وځنډول شی دا به د ځینوله خوا چې د پلان د رعایت په اهمیت پوه نه دی په بزدلی تعبیر شی ، نو کله می چې په وعظ شروع وکړه قوم می په دی آیت مخاطب وگرځا وه چې الله تعالی فرمایی : (یا یهاالذین آمنوا قاتلوا الذین یلونکم من الکفارو یجد وافیکم غلظته) حاضرینو ته می د تلاوت کړی شوی آیت تشریح وکړه او د جهاد د فرضیت اهمیت می ورته بیان کړ په خلکو کی دومره جذبات او احساسات را ویښ شول چې د اجتماع نه دا غږونه را پورته کیدل چې غزاده ، غزا ، حکومت کافر دی ورونو مه گوری او جهاد شروع کړی ! ددی وینا سره سم خلك له حضیری نه کورونو ته ولاړل خپل زاړه ټوپك یی را واخیستل او د علاقداری په لور د طوفان په شان ورغلل او اول هغه ځوان چې د شل ډزی فیرونه یی په علاقدار وکړل حاجی شایست و او اول هغه زلمی چې د مجاهدینو په صف کی یی د خدای (جل جلاله) په لاره کی وینه ورکړه هغه بابرا گل و چې لاس یی زخمی او گوته یې گوډه شوه د هغو عملیاتو په نتیجه کی یو پرچمی علاقدار دهغه ورور او دوه نور خلقیان معلمان مردار شول او ضابط عبدالروف له عسکرو او مهماتو سره مجاهدینو ته تسلیم شو . څرنگه چې په ټول افغانستان کی د ملحدو کمونستانو په مقابل کی همدغه اول علمیات او د جهاد بنسټ او اساس ؤ له یو طرفه خلك له تکتیك او جهاد سره بلدنه وو له بلی خوا زمونږ سره د ځینو بی تجربی ملگرو له خوا چې پخپلو وعدو ټینگ و نه دریدل کلکی وعدی شوی وی چې هر کله تاسو عملیات شروع کړی او خلك مهاجر شی څه چې د ضرورت وړشیان دی لکه : سلاح ، خیمی ، غذایی مواد او نور هغه به تاسو ټولو مجاهدینو ته په پراخه پیمانه زرتر زره پیدا شی . د زیړوك مسلمان او مجاهد خلك له کورونو څخه مهاجر شول په غرونو

کی یی د ونی لاندی شپی او ورځی تیرولی د مهماتو او موادو په انتظار سترګی شول خو چا څه راونه لیږل . د خلکو لوږی اویخ په ما باندی ډیر تاثیر وکړ ځکه چی قومانده زما په لاس کی وه د خلکو وضع می تحمل نکړای شوسمد لاسه پیښور ته ولاړم په هغه وخت کی قاضی محمد امین د نهضت اسلامی مشرو زما په لیدو ډیر خوشحاله شود خلکو وضع می ورته بیان کړه او وسایل می ورنه وغوښتل . نوموړی په ځواب کی وویل چی له مونږ سره دیوی خیمی ، یوی مرمی ، یوی بوری اوړه امکان هم نشته څه ددی خبری چی د څلور سوو مجاهدینو د ضرورت وړ اشیاء برابر او تهیه کړو . عاقبة الامر پس له دریو شپو په درانه طبیعت سره رخصت شو هغه وجه وه چی ما په کراچی کی اووه میاشتی تیری کړلی بیا په آینده حمل کی د ګوملی د محاذ قومانده ما په غاړه واخیسته او د دری میاشتو په موده کی مود ګوملی عسکری قشله فتح او مجاهدین موارګون ته سوق کړل . د کال ترپایه موله مولوی ارسلان رحمانی (فتح الله حقانی) سره جهاد ته ادامه ورکړه بیا ملګریو زما په غیاب کی فیصله کړی وه چی مولوی عزیز خان دی د جهاد د ممثل په صفت له څو نورو ملګریو سره د خلیج په دوره لاړ شی همغلته دی د افغانانو جهاد تمثیل کړی هغه و چی زه د جهاد له جبهو څخه راغلم ، ملګریو پا سپورت ویزه هر شی تیار کړی وو ، د پنځو کالو په تیرولو مو په خلیج کی د جهاد لپاره زیاتی معنوی او مادی ګټی ترلاسه کړی . وروسته بیا نور ملګری د هغی وظیفی لپاره وټاکل شول بیانو حقانی صاحب ، شهید مولوی فتح الله او شهید مولوی احمد ګل د منبع العلوم د مدرسی بنیاد او اساس کیښود نو څرنګه چی دا مدرسه یوه لویه دینی اداره وه او د اداری لپاره یی تجربه لرونکو خلکو ته ضرورت لیدل کیده نوزه د حقانی صاحب او مولوی صاحب نظام الدین حقانی په غوښتنه همدغی مدرسی ته را و بلل شوم تقریباً دری کاله کیږی چی د همدغی مدرسی د علم د یو خادم په صفت د مدرسی د مدیر او استاد په ډول وظیفه لرم . په دی ټولو وختونو کی زما دعا داده چی : الله تعالی دی زما همدغه ناقص خدمت قبول او منظور کړی اللهم امین په راتلونکی ګڼه کی به انشالله العزیز د منبع الجهاد لوستونکو ته د منبع العلوم د مدرسی په باره کی یو مفصل معلومات وړاندی کړم .

د جهاد سنګر له

یو زړور قوماندان سره یوه په زړه پوري مرکه



په دې وروستیو و ختونو کې زمونږ خبریال د جهاد یو سنګر ته تلی و او هلته په دې بریالی شو چې د اسلام د لارې دیو تکړه مجاهد نومیالی قوماندان مولوی حنیف شاه سره دده د جهاد په باره کې یوه مرکه وکړي چې محترمو لوستونکو ته وړاندې کیږي .

پوښتنه : محترم قوماندان صاحب مهرباني وکړی د منبع الجهاد د مجلې لوستونکو ته خپل ځان معرفي کړی ؟

ځواب : زما نوم حنیف شاه د حاجي ظاهر الدین زوی او د پکتیا ولایت د درګی ولسوالی د لغوړی پیران د سیمې اوسیدونکی یم .

پوښتنه : تاسو لومړی چیرته او د چا ترقیادت لاندې وسله وال جهاد پیل کړی دی ؟

ځواب : کله چې محترم مولانا جلال الدین «حقاني» صاحب په ۱۳٥٤ هـ ش کال کې د اکوړه خټك له حقانیه مدرسې څخه د فراغت سند ترلاسه کړ او بیا یو کال په نوموړي مدرسه کې د مدرس په توګه

پاتی شو په دغه وخت کی هغه مدرسه کی زما د طالب العلمی نه دری کاله تیر شوی و . کله چی حقانی صاحب او شهید مولوی صاحب احمد گل د پکتیا د ولایت دنکی په سیمه کی د رحیمیه په نوم د دینی علومو یوه مدرسه جوړه کړه زه هم له هغوی سره یو ځای راغلم او په همدغه وخت کی می د مولانا جلال الدین حقانی صاحب تر قیادت لاندی اسلامی تحریك کی برخه واخیستله کله چی د ملحد داودی رژیم زمونږ د اسلامی تحریك په کار او فعالیت باندی خبر شو . زمونږ مدرسه یی محاصره کړه مولوی صاحب احمد گل یی ونیو او یو کال یی بندی کړ نو کله چی د داود د رژیم دهغه تیری په نتیجه کی رحیمیه مدرسی سقوط وکړ زه بیرته پاکستان ته راغلم ترڅو د دینی علومو زده کړه وکړم په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی له مدرسی څخه فارغ شوم او څه موده وروسته دمحترم حقانی صاحب لخوا سعودی عربستان ته ولیږل شوم دوه کاله می هلته تیر کړل او په ۱۳٦۰ هـ ش کال کی بیرته پیښور ته راغلم په همدغه وخت کی زما د تره زوی چی شاکرین نومیده او دخوست د یو محاذ آمر ؤ له دښمن سره په یوه مخامخ جگړه کی د شهادت لوړ مقام ته رسیدلی ؤ . نو زمونږ مجاهد مشر مولانا حقانی زه د هغه په ځای وټا کلم او دهماغه وخت یعنی د ۱۳٦۰ هـ ش راهیسی د کفر او الحاد په مقابل کی په وسله وال جهاد بوخت یم .

پوښتنه : د جهاد له پیل څخه موتر اوسه پوری په کومو کومو ځایونو کی وسله وال جهاد کړی دی؟

ځواب : له هغه وخت راهیسی چی ما په وسله وال جهاد پیل کړی دی په ډیرو جهادی عملیاتو کی می برخه اخیستی ده چی دلته دنمونی په توگه دځینو مهمو ځایونو په یادونه اکتفا کوم، دبړی منطقه ، شهرنو ، میدان ، زینی خیل ، تنی اسمعیل خیل ، ستی کنډو ، دومنډه ، نادر شاه کوټ ارگون ، توره غاړه او د پکتیا په ځینو نورو سیموکی می جهاد کړی .

پوښتنه : لطفاً د جهاد دوختونو د څو خوږو خاطرو په باب د مجلی لوستونکو ته څه ووایه ؟

ځواب: زما د جهاد له ډیرو خوږ و خاطرو څخه یوه داده هغه وخت چی د محاذ د آمر په توگه مقرر شوم په لیژه کی مونږ ټول (١٦) تنه مجاهدین وو په دغه وخت کی مونږ د ملنگ غنډ ته د قوی د مخی نیولو په خاطر راښکته کیدو چی قوی درگی ته اکمالات وکړل او بیا بیرته د خوست د بازار پرخواتله نومونږ ورته کمین ونیو چی دهغه په نتیجه کی ددښمن له قواو څخه چی تقریباً (۳۰۰)

تنه عسکراو (۱۵) ټانکونه او (۱۲) موټرونه وو .

د کمونست رژیم له هغو نوکرانو نه (۱۷) تنه

ووژل شو او (۳۵) تنه یې ژوندی ونیول شو او

نوره قوه وتښتیدله . دا ځکه زما له خوږو خاطرو

څخه ده چې مونږ وکولای شو چې په هغو

شرایطوکی د ملحد دښمن قواو ته زیان ورواړوو .

زما یوه بله خوږه خاطره داده کله چې په ۱۳۶۳ هـ

ش کال کی د ټولو تنظیمونو مجاهدین د تنی د

ولسوالی دسروبې په مرکز کی سره راټول شوی وو

غوښتل یې چې پر اسمعیل خیلو باندی عملیات وکړی

د دغو عملیاتو عمومی قومانده د الحاج مولانا جلال

الدین حقانی پلاس کی وه . په دغو عملیاتو کی له

ماسره (٤٥) تنه مجاهدین وو کله چې مو عملیات

پیل کړل د نورو تنظیمونو مجاهدینو د دښمن د

سختی بمباری له امله عقب نشینی وکړه خو زما تر

قوماندی لاندی مجاهدینو په کلکه مقاومت وکړ چې

دهغی په نتیجه کی مو د دښمن له نوکرانو نه (

٤٥) تنه چې (۲۱) تنه یې ملیشه او (۲٤) تنه یې

نور اجیران وو په هلاکت ورسول او (۲۱) تنه مو

ژوندی ونیول مونږ ته په هغو بریالیو عملیاتو کی یو

زیات شمیر وسلی لاس ته راغلی .

په هماغه جګړه کی زما په شمول دری تنه مجاهدین

ټپیان او دوه تنه د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل .

پوښتنه : اوس په دی روان وخت کی ستاسی ډر

قوماندی لاندی څو تنه په وسله وال جهاد بوخت دی؟

ځواب : زما د ټولو مجاهدینو شمیر یعنی دهغو مجاهدینو شمیر چی ماسره جهاد کوی دولس سوه تنه دی له دی جملی څخه دری سوه تنه تل په سنگر کی دی او نهه سوه تنه نور یې هغو وختونو او شرایطوکی چی ضرورت ورته وی جهاد ته چمتو دی او چی ضرورت ورته نه وی د خپلو کورنیو سرپرستی کوی او د ژوند نوری چاری پر مخ بیایي .

پوښتنه : روسان زمونږ د مجاهدینو په مقابل کی ډیری خطرناکی ، مخربی او ډیری پرمختللی وسلی استعمالوی آیا د دی وسلو استعمال د خدای د لاری د مجاهدینو په روحیاتو باندی کومه ناوړه اغیزه کولای شی؟

ځواب : دا خبره رښتیا ده چی ملحدین د مجاهدینو او حتی دمتدینو کلیوالو په ضد چی د مجاهدینو وروڼه او د اسلام مینان دی ډیری سختی بمباری او ډول ډول توغندی خصوصاً د سکډ توغندی استعمالوی خو د الله تعالی په فضل د مجاهدینو ایمانی جذبه ډیره زیاته قوی ده ددښمن دسکډ توغندی او وحشیانه بمباری په هغی کی هیڅ کمزوری نشی راوستلای . په لومړیو وختونو کی چی روسانو خپلو نوکرانو ته د سکډ توغندی ورکړل دهغو د تخریب په هکله قسم قسم اوازی خپری وی ، خو کله چی دښمن هغه په مجاهدینو استعمال کړل د مجاهدینو په عزم او جهادی جذبه کی یی هیڅ بدلون رانه وست . اوس خو د سکډ توغندی د ډیر زیات استعمال اوله هغی سره د مجاهدینو دعادی کیدلو له امله مونږ هغه لکه دکلاشینکوف د مرمی په شان گڼو او زمونږ په مورال کوم تاثیر نه لری د اد خدای رحم دی چی ددښمن هیڅ ډول وسله او هیڅ ډول وحشت زمونږ معنویات نه شی کمزوری کولای مونږ د اسلام لپاره د اسلام له دښمنانو سره جنگیږونو ځکه وسلی او د ملحدینو وحشت زمونږ په روحیاتو هیڅکله اغیزه نه شی کولای .

پوښتنه : په دی وختونو کی چی ملحد نجیب او دهغه د نورو ملحدو ملگرو له خولی نه د اسلام او سولی چغی او ناری سوری پورته کیږی تاسی د دوی دغه شیطانی عمل څنگه ارزیابی کوئ ؟

ځواب : دغه حقیقت اوس زمونږ دهیواد هر مسلمان ته واضح شوی دی چی د ملحد نجیب او دهغه د نورو ملحدینو دغه ناری سوری ټول یی منافقانه دی ملحدان غواړی چی له دغی لاری څخه خلك تیر باسی . اوس ټول مؤمن او متدین افغانان په دی پوهیږی چی دوی دهریان دی او خدای نه منی ، اسلام

نه منی، قران نه منی . افغانستان ته کمونستی قانون دوی راوړی دی یوازی د اسلام، اسلام او سولی سولی په نارو خلك غلطوی خو اوس دغه ملحدین ټولو پیژندلی دی او د دوی په خبرو او نارو سورو خلك نه غلطیږی .

پوښتنه: که د سنگر نورو مجاهدینو ته کوم پیغام لری مهربانی وکړی مونږ ته یي وواییي چی د منبع الجهاد د مجلی په کرښو کی یي هغوی ته ورسوو .

ځواب : زما پیغام ټولو مجاهدینو ورونو ته دا دی لکه څنگه چی مونږ یوولس کاله ډیره زیاته قربانی داسلام په لاره کی ورکړه . ډیر شهیدان مو ورکړل باید ډیر زیات متوجه واوسو او د دښمن دسولی په نارو سورو او نورو پستو نرمو خبرو تیر نه وځو هسی نه چی خدای دی نکړی زمونږ د جهاد او قربانیو ثمره بل څوك واخلی. د دښمن په مقابل کی باید خپل صفونه او سنگرونه متحد وساتو او په پوره اتحاد سره جهاد ته ادامه ورکړو . ترڅو لوی خدای (ج) فتحه زمونږ په برخه کړی او دښمن مو هلاك او نابود کړی او په افغانستان کی د مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړ شی .

(وبالله التوفیق)



مولانا البشار

شهامت وثبات یکی از رزمندگان و

فدائیان راه حق

باستناد و شهادت تاریخ اسلامی زمانی که قشون اسلام در زمان خلافت خلیفهٔ دوم مسلمانان ـ (حضرت عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه) در سرزمینهای شام در مقابل قشون انبوه و مجهز امپراطوری روم میجنگیدند، و مسلمانان به نیروی ایمان و روحیهٔ عالی ایثار وفداکاری، دشمنان را به شکست مواجه می ساختند و اخبار شکست و ناکامی قشون روم به گوش امپر اطور روم می رسید وامپراطور از شکست و ناکامی قشون خود خیلی غمگین وخشمگین می شد و در امواج حیرانیها و شگفتنی ها فرو می رفت بقشون خود دستور داد تا عده ای از لشکریان اسلام را اسیر و به نزدش بیاورند تا از نزدیك ببیند و درك کند که حقیقت وراز موضوع چیست و مسلمانان چه گونه کسانی اند و دارای چه اوصاف و مشخصات می باشند که سر و صدای پیروز یهای شان در هر جا شنیده می شود و شکست و ناکامی نصیب رومیها میگردد همان بود که حسب تقدیر الهی در حدود هفتاد تن از لشکریان اسلام بدست رومیها اسیر شدند که از زمرهٔ آنها یکی هم عبدالله بن حذافة السهمی جوان خوش سیما و دارای قیافهٔ دلیر و گیرا بود .

وقتی که امپراطور روم از اسیر شدن این عده مسلمانان اطلاع یافت خیلی خور سند شد و دستور داد تا برای مجازات این عده مسلمانان اجتماع بزرگ

دائر گردد و شکنجه و تعذیب آنها درس عبرت برای دیگران گردد .

طبق روایت تاریخی اسلام در یك میدان وسیع که در ان تماشا چیان حضور داشتند یك دیگ بزرگ مملو از روغن براتش نهاده شده بود و مسلمانان اسیر شده دست بسته در میدان ایستاد بودند ، درین اثناء دو تن از آنها بدستور امپراطور در روغن جوشان انداخته شدند و روغن بحدی جوشان بود که بمجرد انداختن در آن گوشتها واستخوانهای شان از هم جدا شدند و صحنه و منظرهٔ تعذیب انها خیلی مهیب و دهشتناك بود .

سپس امپراطور روم عبدالله بن حذافة السهمی ـ (رضی الله تعالی عنه) را مخاطب ساخت و باوچنین گفت :

ای جوان ! من بتو پیشنهادی دارم اگر قبول کنی سبب نجاتت خواهد گشت ورنه ، مانند دو تن از همرا هانت به سرنوشت سختی رو برو خواهی شد .

پیشنهاد امپراطور چه بود ؟ و در مقابل ، موقف جوان مؤمن و مجاهد چگونه بود ؟

امپراطور چنین پیشنهاد میکند و میگوید !

ای جوان ! اگر از دین خود (اسلام) دست بردار شوی و به آئین نصرانیت بگروی ترا داماد خود خواهم ساخت ، و نصف دارائی خود را به تو خواهم بخشید ، و در امور کشوری تراسهیم و بمقام ارجمندی ترا معزز و مفتخر خواهم گردانید ولی جوان مؤمن وشیفتهٔ حق بایمان واطمینان کامل وثبات واستقامت راسخ جواب میدهد وبامپراطور چنین خطاب میکند !

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P.

امپراطورا ! وعده ای که دادی ، وعده ای ناقص ناچیز است اگر بجای آن ، وعده دهی وچنان کنی که دخترت را به نکاحم در آوری که دامادت شوم ، وهمه کلیدهای خزائن خود را تسلیم من کنی که از همه ثر وتمند تر و مستغنی تر گردم و دم درحال از مقام امپراطوری خود در گذری و من جانشینت گردم قسم بخدا ، که من در مقابل اینهمه وعود و انعامات که بامن کنی لحظه ای هم از دین محمد (صلی الله علیه وسلم) دست نخواهم گرفت و به آئین نصرانیت نخواهم گروید .

وقتی که امپراطور جواب شهامت و ثبات جوان مؤمن را شنید به جلادان دستور داد تا اورا بدار کشند و تیر باران گردد . همان بود جوان مؤمن بدستور امپراطور بدار کشیده شده و تیر زنان دستها و پاهای جوان مؤمن را به تیرها سوراخ سوراخ و خون آلود ساختند وخون براندامهایش بافوران جاری شد .

درین اثناء امپراطور بار دیگر پیشنهاد اولی خود را به او عرضه کرد مگر جوان مؤمن بر دین محمد صلی الله علیه وسلم ثبات واستقامت خود را نشان میدهد وامپراطور را به عدم پذیر فتن آئین نصرانیت مأیوس می سازد . سپس جوان مؤمن ومجاهد بدستور امپراطور از سردار پایان وبسوی دیگ روغن جوشان سوق داده شد ولی وقتی جوان مؤمن و مجاهد راه حق نزدیك دیگ آورده می شود در ینوقت چشمانش اشکبار وچهره اش دیگر گون می شود و می گرید .

جلادان از حال وی به امپراطور عرض نمودند و جوان مؤمن و مجاهد راه حق به حضور امپراطور برگردانیده می شود وامپراطور گمان می برد که ممکن حالا دین خود را ترك وآئین نصرانیت را خواهد گروید لذا بجوان مؤمن چنین خطاب میکند و میگوید :

ای جوان ! بخیالم از روغن جوشان و مرگ در بیم و هراس شدی وآئین نصرانیت را خواهی پذیرفت .

جوان مؤمن و مجاهد راه حق بازهم جواب اولی خود را به ثبات و متانت تکرار میکند و بر دین محمد صلی الله علیه وسلم ثبات و استقامت خود را نشان میدهد و امپراطور را در آرزویش نومید و مأیوس می سازد ولی امپراطور از وی می پرسد و برایش چنین میگوید !

وقتی که از تعذیب و مرگ ترس و بیمی نداری پس سبب گریه و دیگر گونی توچیست ؟

جوان مؤمن و مجاهد راه حق ، بامپراطور چنین جواب میدهد و میگوید :

امپراطورا ! آنچه را که دیدی و شنیدی ، دیدی وشنیدی و آنچه راکه خیال کردی خیال کردی ولی سبب گریه و دیگر گونی ام اینست که من یك نفس دارم وآن بمجردیکه در دیگ روغن جوشان انداخته شوم از تنم جدا و بار دیگر رجعتی ندارد لذا ارزو کردم که ای کاش ! به تعداد موی بدن خود روان های میداشتم که در مقابل هرموی که به امرت در دیگ انداخته می شدم و روحم از تن جدا می شد علی الفور بسبب روح دیگر زنده می شدم واین تکلیف را در راه خدا به تعداد مویهای بدن خود می چشیدم

همان بود که این جوان مؤمن و مجاهد راه حق بسبب ثبات واستقامت که بر دین خود نشان داد و همراهانش مورد پوزش امپراطور قرار گرفت وامپراطور از ثبات واستقامت آنها بطور عبرت بمردم روم و بویژه به لشکریان خود یاد آوری نمود .

این بود نمونهٔ از نمونه های ثبات واستقامت یکی از را دمردان مکتب اسلام و قهرمانان فداکار راه حق که از آن تذکری رفت .

بناء ، مجاهدین راه حق را که در هر جا و در هر

زمانی که باشند بالخصوص مجاهدین مؤمن و سربکف افغانستان را که از مدت (۱۰) سال باینطرف در مقابل نیروهای استعماری روس و چاکران و جیره خواران آن (پرچمیها وخلقیها) در نبرداند و بر دشمنان خود خسارات مالی و جانی وارد میکنند می باید که مانند پیروان اول مکتب اسلام (اصحاب کرام رضی الله عنهم) بمنظور اعلاء کلمة الله وحاکمیت دین مقدس اسلام و استقرار مبادی حق و مبانی عدالت و فضائل اخلاقی و ارز شهای انسانی جدوجهد نمایند ، و در مقابل ظلم و تجاوز دشمنان اسلام بهر قیمتی که باشد مخلصانه جهاد کنند وقدسیت جهاد و راز موفقیت وکامیابی را بسبب اغراض مادی و حس جاه طلبی از دست ندهند .

ترمذی و دارمی از کعب بن مالك (رضی الله عنه) روایت میکند که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است : « ما ذئبان جائعان ارسلا فی غنم بأفسد لها من حرص المرء علی المال والشرف لدینه » مطلب اینکه دوچیزیست بقدریکه حریص بودن بآنها بخرابی دین مرد یعنی دینداری اش می انجامد این ضرر نسبت بآن ضرریکه از دوگرگ گرسنه به گوسفندان عائد می شود خیلی زیاد است وان دو چیز عبارت از جاه طلبی و محبت مال است همچنان باید مجاهدین راه حق به تفوق وکثرت نیروی مادی و رزمی دشمنان وپروپاگندها و تهدید های آنها اهمیت ندهند زیرا ایمان قوی و یقین کامل براین است که پیروزی به تفوق وسائل جنگی وکثرت نیروهای رزمی نمیباشد بلکه راز پیروزی و کامیابی به داشتن قوت ایمانی ، تقوی ، اخلاص و روحیه ای عالی ایثار وفداکاری مربوط و منوط میباشد . خداوند عزوجل در ینمورد در سورهٔ ال عمران چنین فرموده است : « کم من فئة قلیلة غلبت فئة کثیرة باذن الله والله مع الصبرین »

یعنی بسا از گروههای اندك اند که برگروههای کثیر غالب وپیروز میگردند والله با صابران است .

برعلاوه می باید که مجاهدین راه حق بمنظور تأمین مصالح دینی وحیاتی از اختلافات و درگیریهای ذات البینی بصورت جدی وفعال جلوگیری کنند ورنه ، اختلافات و درگیریها بنفع دشمن تمام خواهد شد .

خداوند عزوجل در بارهٔ همبستگی و توحید صف جهادی مسلمانان در سورهٔ - الصف - چنین میفرماید :« ان الله یحب الذین یقاتلون فی سبیله صفا کانهم بنیان مرصوص »

باقی در صفحه (۵۶)

سید محی الدین هاشمي

د افغانستان د روسي

کولو لپاره د روسانو هڅې او د هغوی ناکامي

دا خو ټولو ته معلومه ده چې په افغانستان کی د روسانو په دستور او ملاتړ د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور داوو مې نیټې له کر غیړنې کود تا څخه وروسته د دغه هیواد ټولې دولتي (ملکي او پوځی) چارې د روسانو له خوا اداره کیدلې. د کی، جی، بی جاسوسان په دولتي مؤسسو کې د مشاورینو په نامه گومارل شوي وو، هر څه او هر څنگه چې به هغوی امر کاوه لاس په نامه نوکرانو (خلقیانو او پرچمیانو) به بې له تحلیل او غور څخه کټ مټ عملي کاوه.

روسانو له پیل څخه دا هڅه کوله چې د مسلماني افغاني ټولنې اجتماعي جوړښت او عنعنوي سیستم ته داسې بدلون ورکړي چې خپله اصلي بڼه او ځانگړتیا له لاسه ورکړي او هر څه یې روسی رنگ واخلی.

روسانو دا کار د دې لپاره کاوه چې:

الف: تر څو له دې لارې د افغانانو اسلامي عقیدې او ټولنیزې عنعنې ته داسې تغیر ورکړي چې د سره استعمار حاکمیت او سلطه په اسانی سره په ځان ومني. په دې توگه به افغانستان خپله آزادي او خپلواك حیثیت له لاسه ورکړي او د روسیې له اقمار و څخه به و شمیرل شي.

ب: د روسی کولو د عملیې په چټکوالي سره به و کولای شي چې په افغاني ټولنه کې د افغانستان د مؤمنو خلکو د جهادي پاڅون او غور ځنگ نفوذ او اغیزکم او حتی له مینځه یوسي.

روسانو په افغانستان کې کمونیزم ته د خلکو

داړولو په تکل له ډيرو اړخونو او ابعاد و څخه کار او فعاليت پيل کړ . له يوې خوايې په دولتي ادارو کې د خپلو مشاورينو په گومارلو او ټاکلو سره د چارو واك ترلاسه کړ . اوهم يې خپل او د مزدور رژيم د ډله ايز (جمعي) ارتباط وسايل (راډيو ، تلويزيون او نشرات) د دغه شوم هدف د ترسره کولو لپاره د تبليغ په منظور په کار واچول ، دښوونځيو اولوړوښوونو په تعليمي نصابونو کې يې هم بدلون راوست او هغه يې داسې عيار کړل چې زده کوونکي او محصلين په الحادي مفکوره له روس او کمونيزم سره د وفادارۍ په روحيه وروزل شي ، د دې ترڅنگ يې د روسي ژبې د زده کړې عاملو ته پراختيا ورکړه او ورسره ورسره يې روسيې ته اوږدې او لنډې مودې لپاره دښوونځيو او پوهنتونونو د زده کوونکو او محصلينو ، پوځي او ملکي ، مامورينو ، کارگرانو اوبزگرانو په ليږ لوپيل وکړ . اوله بلې خوايې د هيواد ټول اقتصادي چوکاټ ته د روسي اقتصادي سيستم د رنگ ورکولو لپاره هلې ځلې شروع کړې . مونږ دلته د موضوع د روښانو لو لپاره ځينو هغو مهمو اړخونو ته يوه لنډه کتنه کوو چې روسانو په هغه برخه کې خپلې شومې هڅې اغيزمنې گڼلې او د نورو په نسبت ورته زيات متوجه وو او بيا به د هغې ناکامې هم و څيړو :

لومړی - د تعليم او تربيې په برخه کې :

د روسي تر قوانينو لاندې دافغانانو د راوستلو د پلان د ژر تطبيقو لو لپاره يرغلگرو روسانو ته دافغاني ټولنې دښوونې اوروزنې مسئلې مرکزي حيثيت درلود او ډيره زياته هڅه يې کوله چې له دغې لارې څخه خپل شوم او ناولي هدف ته ورسيږي .

روسانو د ثور له کر غيړنې کود تاڅخه وروسته او په ځانگړې توگه پر افغانستان باندې د مستقيم يرغل څخه راپدې خواد افغانستان د تعليم او تربيې په سيستم کې زيات بدلون راوست . په دې لړکې يې د افغانستان پخوانی تعليمي نصاب په دې نامه او پلمه چې هغه د يوې وروسته پاتې فيوډالی او طبقاتي ټولنې محصول دی او د ړسنې عصر غوښتنو او پوښتنوته سم ځواب نشي ويلای ، له مينځه يوړ او دهغه پرځای يې د کمونيزم ، الحاد او بې دينۍ پربنسټ ولاړ داسې تعليمي نصاب را مينځ ته کړ چې په هغه کې د اسلامي ښوونې او روزنې مسألې ته هيڅ پاملرنه نه وه شوې . په نتيجه کې د ديني علومو اکثر مدرسې و تړل شوې ، استادان اوز ده کوونکي يې د اسلامي عقيدې درلودلو او د کمونيزم او الحاد سره د ضديت په تور څه د زندانونو تورو خونوته وليږل شول ، چې اکثره يې د ملحدو جلادانو په

لاس شهیدان شول او ځینو یې د الهی ارشاداتو په رڼا کې د قرآن مجید له احکامو سره سم ګاونډیو اسلامي هیوادونو ته هجرت وکړ.

په دغه الحادي تعلیمي نصاب کې د دیني مضامینو او اسلامي تاریخ پرځای مارکسیستي پوچې الحادي فلسفې، سوسیالیستي او کمونستي اقتصاد، د خلق د کمونست ګوند تاریخ او د نړۍ د کمونستي او سوسیالستي نهضتونو تاریخ مضمونونو ته خاصه پاملرنه ورواړول شوه او د دې تر څنګ د ښوونځیو او پوهنځیود اجتماعي مضامینو محتوی او موضوعات داسې ترتیب شول چې په هغې کې د اسلام سپیڅلي دین سره ژوره دښمني، د وطن پلورنې، روسانو او کمونیزم ته د وفادارۍ او د هغوی د غلامۍ قبولولو روحیه په ډاګه ځرګندیدله. په ښوونځیو او پوهنځیو کی د دې په ځای چی عربی موجوده وې د روسي ژبې زده کړه او تدریس پیل شو. د ښوونځیو تعلیمي چوکاټ داسی عیارشو چی دلیسې دوره د دولسو کالو پرځای د روسی سیستم په څیر لسو کالو ته را ټیټه شوه. برسیره پر دې روسانو روسیې ته دښوونځیو او لوړو تعلیمي مؤسسو دزده کوونکو په لیږلو هم پیل وکړ (چې زیاته برخه یې ماشو مانو تشکیلوله) له دې کار څخه د روسانو یواځینی مقصد دا ؤ چې د ښوونې او روزنې په چوکاټ کې داسې یونسل وروزي چې دوی ته په تمامه معنا وفادار او له دین، مذهب، اسلامي اخلاقي معیارونو او د افغاني ټولنې د عنعنوي سیستم، ثقافت او کلتور نه په بشپړه توګه بې خبره وي تر څو په راتلونکی کې ددوی د هر امر او غوښتنې د تعمیل لپاره چمتواوسي.

روسانو خپل دغه ناولي هدف ته د رسیدلو په هیله په لکونو افغاني ماشومان او نوي ځوانان روسیې ته بو تلل او هلته یې د اسلامي مغز پر ځمنځنې په بیلو بیلو خصوصي تعلیمي مؤسسو کې تر روزنې او پالنې لاندې ونیول.

دویم - د ډله ئیز (جمعی) ارتباط د وسایلو په برخه کې:

دا خو یوه معلومه او ازمویل شوې خبره ده چې د انساني جسم د تابع کولو او فتح کولو په نسبت د انساني ذهن او شعور تر اغیزې لاندې راوستل او پر هغه باندې حاکمیت پیدا کول ډیر ستونزـ ورکاردی. دغه کلیه د یو فرد، ټولنې او ملت په برخه کې یو شان صدق کوي، ځکه نو د نړۍ استعماري قوتونه خپل کرغیړن او شوم هدف ته د ځان رسولو په منظور له همدغه نسخې او وسیلې څخه کار اخلي او د مخه تردې چې یو ملت او ټولنه پخپله استعماري لومه کې راښکیل کړي، هڅه کوي چې لومړی هغوی په ذهني توګه دې ته چمتوکړي چې پرخپل ځان د دوی حاکمیت او سلطه ومني.

د ذهني تسخير لپاره ډيره مؤثره طريقه تبليغات او نشرات دي او هغه د ډله ايز ارتباط د وسايلو (راډيو ، تلويزيون ، اخبار مجله ، کتاب) له لارې په ښه او اسانه توګه سره کيدلای شي .

په اوسني عصر کې يرغلګرو او ملحدو روسانو دغه نسخه په روسيه او خپلو اقمارو کې از مويلې او د يوې مؤثرې وسيلې په توګه يې ترې کار اخيستی دی ، نو ځکه يې په افغانستان کی هم له همدغه روش او طريقې څخه کاراخيست .

پر افغانستان باندې د مستقيم او غير مستقيم پر غل په دواړو وختونو کې روسانو د خپلو مشاورينو په ذريعه د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور پر وزارت بشپړ تسلط او حاکميت درلود او ټول نشراتي او تبليغاتي وسايل يې ترجدي کنترول لاندې نيولي وو او دي . او د هغه څه د خپرولو اجازه ورکوي چې د دوی د الحادي نظام او مفکورې په ګټه وي .

په افغانستان کې د نشر او اشاعې وسايل د حکومت په ملکيت کې شامل دي ، آز ادو اژانسونو ، تبليغاتي او نشراتي وسايلو ته د کار او فعاليت حق نه ورکول کيږي ، ځکه نو د ژريم راډيو ، تلويزيون او نور نشراتي وسايل خپل خبرونه او معلومات د روسيې د تاس او يا د ختيځې اروپا د کمونستي او روس پلوي رژيمونو څخه تر لاسه کوي او دا فيصله نو بياروسان کوي چې د خپلو - تبليغاتي وسايلو له لارې د افغانستان خلك له کوم ډول نړيوالو او کورنيو مسايلو څخه خبر کړي .

د خپل مزدور رژيم ټول نشراتي ارګانونه (مجلې ، ورځپاڼې او جريدې) يې په دې مؤظفې کړې، څو داسې خپرونې وکړي چې د کمونستي نظام په ګټه او هدف يې يوازې او يوازې د الحادي مفکورې تبليغ ، ترويج او د روسانو ستاينه وي . د راډيو او تلويزيون پروګرامونه او خپرونې هم ټولې داسې عيارې شوې چې زياته برخه يې د روسي فرهنګ ، ادب او ټولنې معرفې ته خاصه شوې ده ، ددې ترڅنګ مسکو راډيو دپښتو او درې پروګرامونو د خپرونو په لړکی پراخه تبليغات کوي او په ۱۳۵۹ هـ ش کال کی يې په کابل کې يو ځمکنی سټيشن جوړ کړ تر څوله دغې لارې وکولای شي د کابل تلويزيون لپاره د روسي پروګرامونو د مستقيم نشر زمينه مساعده کړي .

دا چې کتابونه ، مجلې ، جريدې او نور نشرات چې د ابلاغ ستر وسايل ګڼل کيږي او پر خلکو او د ټولنې په عامه افکارو زياته اغيزه کوي . د روسي کولو د هڅو علمبردارانو هيڅکله دانشو کولی چې هغه له پامه و غورځوي . هغوی په دې ښه پوهيدل چې افغانان بايد کوم-کوم شيان مطالعه کړي . او له کومو پيښو نه نا خبره وساتل شي . روسانو د دغې استعماري پاليسۍ د تطبيق لپاره د خپل تسلط له پيل څخه پاخه پلانونه او تدبيرونه په پام کې

نیولي وو . د دغه شوم پلان د پلي کولو په تکل یې خپل نوکران دې ته و گومارل چې پر عامه کتابخانو کلك سانسور ولگوي او هغه آثار له منځه یوسي چې د اسلامي تاریخ او د افغانستان د ملي ادب ، تاریخ اوّ کلتور په برخه کې گټور معلومات ولري او یاد کمونیزم د پو چې او الحادي عقیدې پر ضد او یا په بشري نړۍ کې د روسانو د جنایاتو په برخه کې لیکل شوي وي . له عربي هیوادونو څخه د عربي کتابونو او مجلو واردیدل په رسمي توگه منع گڼل شوي ، خو په مقابل کې د روسي ژبې د آثارو ، مجلو ، او نورو خپرونو بازار دومره تود شو چې د هیواد په مرکز او ولایاتو کې د مزدور رژیم تر تسلط لاندې سیمو وړې او لویې کتابخانې پرې ډکې شوې ، په دغو آثارو کې زیاتره په پارسي ، پښتو او انگریزي ژبو هغه ترجمې موجودې وې چې په هغو کی د مارکسیتي پو چې الحادي فلسفې ، د روسانو د ټولنیزوحشي ژوند ، ادب ، کلچر ، او په عمومي توگه د دین او مذهب پر ضد بې معنالیکنې او ځیړنې شوې وې .

لنډه دا چې روسانو هڅه کوله چې هم د خپلو او هم د مزدور رژیم د عامه ارتباط د وسایلو د تبلیغ له لارې د افغانانو ذهنیتونه دې ته چمتو کړي چې د دوی پو چه الحادي فلسفه او استعماري سلطه

د کمونست رژیم هغه اجیران چې د مجاهدینو له خوا د جنگ په ډگر کې بیرنیول شویدي .

پرځان ومني .

د ریـم په اقتصادي ډګرکې :

هسې خو هر یو استعماري نظام دا هیله لري چې د نورو هیوادونو مادي او معنوي پانګې لوټ کړي او ټولنه یې خواره او ذلیله کړي او د هغوی په اقتصادي پانګو دوی په مزو او چړچو سره ژوند وکړي او د خپل هیواد د هو ساینې او سمسورتیا لپاره یې په کارواچوي . مګر روسان په دې کار کی تر نورو ډیر د مخه دي ، او لکه څنګه چې یې په وحشت او وینې تویولو کې ساری نه لیدل کیږي همدغسې د ملتونو د اقتصادي پانګې په لو- ټولو کې هم دومره حریص او سپین سترګي دي چې هیڅ ډول انساني او اخلاقي معیار په پام کې نه نیسي .

له هغه وخت را هیسې چې روسانو زمونږ د هیواد د مغرورو او بې کفایته حاکمانو د غلفت او نا پوهی په وجه د افغانستان د طبیعي زیرمو (معدنونو) او اقتصادي شتمنیو په بیلو بیلو ساحو کې د ګاونډیتوب انساني خوا خوږی ، مرستې او همکاری په پلمه لاس پیدا کړی دی په دې فکر کې وو او دي چې څنګه او له کومې لارې د دغه بیوزلي ملت عامه دارائي او طبیعي اقتصادي زیرمې لوټ کړي ، زمونږ هیواد په اقتصادي لحاظ لاپسې کمزوری او څانته یې اړکړي ، ترڅو په راتلونکی کې هغه په اسانۍ سره ښکیل کړای شي

او بیا د خپل وروستي شوم هدف (دهند تودو او بوته د رسیدو) په لور مخ په وړاندې لاړشي . روسانو د خپل دغه پلان مطابق همداسې وکړل او دوخت د بې کفایته حکومتونو د بې کفایتۍ څخه په ګټې اخیستلو سره په دې بریالي شول چې د خپلې خوښې او آرزو سره سم د افغانستان د تیلو ، طبعي ګاز او نورو معدنیاتو زیرمې استخراج او خپل هیواد ته یې ولیږ دوي او د خپل اقتصاد بنسټ پرې پیاوړی کړي .

دا خو ټولو ته معلومه ده چې روسانو د ثور له خونړۍ کود تا څخه د مخه هم په بیلو بیلو پلمو ، رنګونو او نیرنګونو د افغانستان اقتصادي منابع او طبیعي زیرمې لوټلې وې او زمونږ هیواد یی په اقتصادي لحاظ دومره کمزوری کړی ؤ چې دوخت واکمنانو ته روسیه د یواځیني اقتصادي تکیه ځای په توګه ښکاره کیده ، نو ځکه یې د هیواد د اکثرو عمراني چارو واك روسانو ته په لاس ورکړ او نتیجه یې دا شوه چې یر غلګر روسان خپل شوم او ناولي پلان ته د رسیدو په هیله څوګامه راد مخه شول . لومړی یې د ثور د خونړۍ او کر- غیړنې کودتا په وسیله خپل نوکران (حلقیان او پرچمیان) قدرت ته ورسول او له دغې لارې څخه یې د هیواد د ټولو سیاسي ، اقتصادي ، فرهنګي ، پوځی او ... چارو واك په خپل لاس کې ونیو . او بیا یې د خپلو غلامانو په خوله د روسیی په

سیستم د افغانستان د اقتصاد د عیارولو او منظمولو اعلان وکړ ، د ځمکو د اصلاحاتو ، داوبو لګولو او مترقي مالیاتو فرمانونه او قوانین یې اعلان او د تطبیق لپاره یې هلې ځلې پیل کړې،د کارګرانو ، بزګرانو ، کسبګرو او ... په نامه‌راتحادیو او کوپراتیفونو ، تعاوني صندقونو په نامه اداري یې جوړېکړې . دغه ټول فرامین او قوانین غیر اسلامي او د اسلام د مقدس دین له احکامو سره یې په ښکاره بشپړ مغایرت درلود ، د روسي کمونستي قوانینو د متنونو تر جمې وې،د افغانستان د مسلمانو خلکو له خوا په کلکه رد او پر ضد یې پا څونونه وشول . کله چې روسان په دې و پوهیدل چې د دوی لاسپو څې د مؤمنو افغانانو د پاڅون په وړاندې د مقاومت قوت نه لري،نو د خپل پوځ سره یې مستقیماً د افغانستان پر خاوره تیری وکړ . د روسانو د دغه مستقیم یرغل پر ضد د مؤمنو افغانانو مقاومت نور هم پیاوړی شو . او روسان یې دیته پرې نښودل چې خپل الحادي او کمونستي قوانین او فرامین عملي ، د خپلو لاس یو څو او اقتصادي ګټو بقاء او پایښت تضمین کړي ، دوی ته د خپل شوم هدف پر لور د وړاندې تګ لاره اواره شي . بلکه د افغانستان د مسلمان ملت په وړاندې یې شرمیدلې ماتې وخوړه ، سرماتي او آرمانجن ترې وتښتیدل .

روسانو په افغانستان باندې د غیر مستقیم او مستقیم تیري په دواړو وختونو کې زمونږ د هیواد د اقتصادي منابعو د لوټلو او تباه کولو په کار کې هیڅ صرفه و نکړه ، د خپل وس سره سم په کومو ځایونو کې چې یې لاس رسیده اوددوی تر تسلط لاندې راغلي وو،طبیعي کاني منابع او زیرمې استخراج او خپل هیواد ته یې ولیږدولې ، همدارنګه یې د افغانستان د موزیمونو ټول لرغوني او تاریخي آثار چې زمونږ د هیواد لویه فرهنګي او اقتصادي شتمني او پانګه ګڼل کیدله له ځانه سره یوړه . خوهلته چې ددوی لاس نه رسیده او له اقتصادي پانګو څخه یې مستقیماً او غیر مستقیماً استفاده نشوه کولای ، لکه طبیعي ځنګلونه او کښتونه ، هغه یې د اور بلوونکو بمونو په وسیله و سیځل . او له دې لارې یې د افغانستان خلکوته نه جبران کیدونکې زیانونه ورواړول .

افغانستان د روسي کولو هڅې څنګه ناکامی کړای شوی ؟

دا موضوع چی : د افغانستان د روسی کولو لپاره د روسانو شومې هڅې او هلې ځلې څنګه او ولې له ناکامۍ سره مخامخ شوې ؟ ښایي د هر چاپه نظر دهغه د ځانګړي قضاوت او طرز تفکر له مخې بیل بیل عوامل ولري او په دې کې شك نشته چی په افغانستان کې د روسانو د شرمیدلی ماتی په هکله به هر څوك ځانګړی او جلا نظر لری .

څوك به له افغانستان څخه د روسانو وتل دنړیوالو فشارونو سبب ګڼی ، څوك به یی د

روسیی په رهبری او سیاست کی د بدلون نتیجه بولی ، څوك به یی د افغانستان د مسلمان ملت له مجاهدینو او مهاجرینو سره د اسلامی هیوادونو په ځانګړې توګه د پاکستان او سعودي عربستان د مرستو او کلك ملاتړله امله ګڼي او څوك به یې ... خو زمونږ په عقیده دا یو هم د افغانستان د روسي کولو د هڅو د ناکامۍ او په نتیجه کی د روسانو د شرمیدلې ماتې او بیا تتښتې اصلي او اساسي عامل نشي کیدلای .

روسانو د افغانستان د نیولو او د سرې امپراتورۍ د جزګرځولو لپاره ډیر له پخوانه شوم پلان درلود ، او د همدغه ناولي پلان د ترسره کولو لپاره یې په بیلو بیلو وختونو کې په بیلو بیلو بڼو زمونږ هیواد ته سر راد ننه کړ او د وخت د بې کفایته حکومتونو د غفلت او ناپوهۍ له امله یې د دولتي دستګاه په ډیرو مهمو برخو کې لاس پیدا کړ . بالاخره لکه چې مخکې مو وویل په ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور په اوومه نیټه د روسانو په دستور ددوی ایجنټانو او غلامانو (خلقیانو ـ پرچمیانو چی د همدی هدف لپاره یې روزلي وو ،کودتا وکړه او د قدرت واګې یې ترلاسه کړې . تردې وروسته بیاټولې دولتي چارې د روسانو په دستور سرته رسیدلې . که غلامانو یې فرمانونه صادرول او که مقررات او قوانین یې وضع کول ، او که دتش په نامه مترقي اصلاحاتو په نامه یې د دولتی دستګا په ادارو کې بدلونونه راوستل او که ..... داټول د روسي قوانینو او فرامینو د متنونو ترجمې وې چی د روسي مشاورینو له خوا ورته ویل کیدلې او دوی په پټو ستر ګو او وزاز کومي د افغانستان خلکو ته اعلانولې . او دا چې دغو ټولو فرمانونو او قوانینو له یوې مخې د اسلام د مقدس دین له اساساتو سره بشپړ مغایرت د رلود ، نو ځکه یې له هماغه لومړیو شبیو څخه د افغانستان مؤمنو خلکو پر ضد په کلکه مخالفت پیل کړ .

هسې خو په افغانستان کې د کمونستي مفکورې او د روسانو د ملحدو نوکرانو پر ضد ډیره پخوا مبارزه او مجاهده پیل شوې وه ، خو په افغانستان کې کمونستی کودتا او د روس د غلامانو په خوله د روسي قوانینو او فرامینو نفاذ د مؤمنو افغانانو د مقاومت اورته د تیلو کار ورکړ او ډیر ژر ټول هیواد د روس ایجنټانو ته د اورتبۍ وګرځید .

روسانو که هر څو خپلو غلامانو ته درنې او سپکې وسلې په واك کې ورکړې او که هر څویې ورته د مؤمنو افغانانو به مقابل کې د ظلم ، زور زیاتی ، او وحشت قوماندې صادره کړه ، او که هر څویې خپل نیرنګونه په کار واچول . دې یوهم د افغانانو د جهادي غور ځنګ د تو پاني بهیر مخه و نشوای نیولای ، بلکې لاپسې پیاوړی شو .

روسانو ته چې معلومه شوه چې نور یې نوکران د مقاومت توان نه لري ، نو د ټولو نړیوالو موازینو

پر خلاف یی په ډیره بې شرمانه توګه د
افغانستان په خاوره یرغل وکړ.

د روسانو دیر غل په وړاندې د مؤمنو افغانانو د
مقاومت توان څو چنده نورهم پیاوړی شو.

ملحدو روسانو څه د پاسه (۹) کاله پخپل ټول
زور او قوت سره د افغانستان د مسلمانو خلکو د
جهادي پاڅون د ځپلو او له منځه وړلو هڅه
وکړه، خو په دې لار کې هیڅ ډول وسلې او
وسیلې، زور زیاتی، لوټماری، عامه وژنو او...
پخپل شوم او کرغیړن هدف کې د دوی د برې
تضمین ونکړای شو. بالاخره د یوتش لاسي خود
ایمان او عقیدې په وسله سمبال ملت له خوایې
داسې ماتې و خوړله چې په تاریخ کې یې ساری
نه لیدل کیږي.

نو ویلای شو چې د افغانستان د روسي کولو د
هڅو د ناکامۍ اصلی او اساسي عوامل د افغانستان
د مؤمنو خلکو سره د الله جل جلاله نصرت او
معاونت، د دغه مسلمان ملت وسله وال جهادي
پاڅون او پرله پسې نه ستړی کیدونکی مقاومت او
له یونیم ملیون څخه د زیاتو مؤمنو افغانانو
قربانی ده، چې روسان او د هغوی نوکران یې په
آرامه اخیستلو ته پرې نښودل او دا موقع یې
ورنکړه چې خپل شوم او کرغیړن هدفونه په عمل
کې پلې کړی.

البته د اسلامی هیوادونو خصوصاً د پاکستان ایران
او عربستان د اسلامي وروری او خوا خوږۍ پر بنأ
مرستې په ډیرو لرو ممدو او فرعي عواملو کې
ګنل کیدای شی.

د جهاد د سنګرونو
خبرونه

خوســـت :

رارسیدلو خبرونو له مخې مجاهدینو د صفري د میاشتې په (۲۸) نیټه د شیخ امیر په علاقه د اري باندي عملیات وکړ . چې دهغې په نتیجه کې ملحد دښمن ته د سراو مال درانه تلفات په خبر کې زیاته شوي چې د حق او باطل ترمنځ په دغه جګړه کې د ټولو تنظیمونو له مجاهدینو څخه (۱۰) تنه ټپیان شوي د مدرسې (۷) تنه طالب العلمان د امیر ګل د ګروپ یو تن مجاهد په ګړون د خدای جل جلاله د رضا په لاره کې د شهادت لوړ مقام ته رسیدلی دی .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د رارسیدلو خبرونو له مخې د صفري دمیاشتې په (۱۹) نیټه په خوست کې د ملحد رژیم له قواو څخه (۹) تنه عسکر دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شول .

د یو بل خبر له مخې په نوموړي نیټه دملحد رژیم قواو د ولسوال کلاته نژدې مجاهدینو ته کمین نیولی ؤ چې مجاهدین پرې خبر شول او پرهغوي یې حمله وکړه د حملې په نتیجه کې څلور تنه ملیشه ووژل شول او پاتې نور یې وتښتیدل او نوموړي سیمه مجاهدینو ونیوله .

د یو رارسیدلی خبر له مخې د صفري د میاشتې په (۱٦) نیټه مجاهدینو د خوست دهوایی میدان د پاسه د ملحد رژیم دوه الوتکې چې یوه یې څلور ماشینه اوبله یې جیټ وه وویشتله . په خبر کې زیاته شوي ده چې جیټ الوتکه دخوست دهوایي ډګر په جنوبي خوا کې سقوط وکړ او دهغې پیلوټ د

پراشوت په ذریعه د ملحد رژیم تر تسلط لاندی سیمه کی ښکته شو . او څلورماشینه الوتکه د متون په سیمه کی راوغورځیده . خبر وایی چی دغه الوتکی د شهید عبدالمنان د جبهی مجاهد باچا کوچی راغورځولی دی.

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د صفري د میاشتی په (۱۷) نیټه دخوست په هوایی ډگر باندي د ثقیله وسلو په ذریعه انداخت وکړ چی دهغی په نتیجه کی ددښمن دوه ټانکونه په هغوي کی ناستو کسانو سره یوځای وسوځیدل .

همدا رنگه د درگی دولسوالی مجاهدینو د دښمن پرپوستو باندی دثقیله وسلو په ذریعه انداخت وکړ چی دهغی په نتیجه کی ددښمن یو صحرا یی توپ او یو موتر تخریب او په هغوي کی ناست کسان په هلاکت ورسیدل .

د رارسیدلی خبر له مخی د صفري د میاشتی په (۲٦) شپه د مانکی پوستی یوي ډلی عسکرو د پوستی دوه تنه کمونست عسکرو وژل اوټول له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شو .

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د صفري د میاشتی په (۲۷) شپه د ملحد او مزدور رژیم یوه څلور ماشینه الوتکه د ون ټوټو د ډزو پوسیله راوغورځوله په خبر کی زیاته شوي ده چی په دغه الوتکه کی دهغی پیلوټ په شمول دالوتکی پنځه تنه عمله وژل

شوي ده .

د يو بل خبر له مخې د سلمان فارسى دغنډ مجاهدينو د صفري د مياشتى په (٢٦) نيټه ددښمن يو ټانك تخريب كړ .

په يو رارسيدلى خبركى ويل شوي دي چې دصفري د مياشتى په (٢٨) نيټه د خوست ولسوالى له قرار گاه څخه (١٢) تنه عسكر له خپلو وسلو سره مجاهدينو ته تسليم شوي دى .

په يو رارسيدلى خبر كى ويل شوي دى چې مجاهدينو د **صفرى د مياشتى په**(١٦) نيټه د ملحد رژيم قواو د ويليم پوستى په شا وخوا كى د مجاهدينو پرسنگرونو تعرض وكړ چې د مجاهدينو كلك مقاومت په نتيجه كى ددښمن قواوي بيرته په شاوتمبول شوي او درانه تلفات ورواوښتل .

په خبر كى زياته شوي ده چې د حق او باطل ترمنځ په دغه جگړه كى د سلمان فارسى دغنډ له مجاهدينو څخه حاجى قاسم حاجى سدو شير زمان زيړي گل عبدالخالق او ظاهر خان ټپيان شوي دى او يو تن مجاهد چې عمر خان نوميده د شهادت لوړ مقام ته رسيدلى دي .

(انا لله وانا اليه راجعون)

مجاهدينو په خوست كى (١٤) پوستى ونيولى د (١٤١٠) كال د صفر د مياشتى په اتمه (٨) نيټه مجاهدينو د يو پراخ عمليات په ترڅ كى دكمونست رژيم د اسمعيل خيلو پوځى مركز او ـ ١٤) نوري پوستى چې د خوست د پوځى قشلى خوا او شا كى موقعيت درلود ونيول پدي جگړه كى (٩٣) تنه د رژيم اجيران اسير ونيول شول . همدا رنگه درى تنه عالى رتبه افسران يى ووژل شو . مجاهدينو ته د دى جگړى په نتيجه كى (٢٢٤) درنى اوسپكى وسلى او لوى توپونه لاس ته ورغلل همدا رنگه په دى جگړه كى مجاهدينو د دښمن دوه ټانكونه او څلور د پوځو نو دانتقال لوي موټرونه له منځه يووړل دنوموړو موټرونو درى تنه ډرايوران هم وژل شوي د مجاهدينو له خوانه (١٧)تنه شهيدان شوي او (١٦) تنه نوريى ټپيان شوي .

د كابل ـ جلال آباد لويه لاره بنده شوه

د رارسيدلو خبرونو له مخې مجاهدينو د ميزان د مياشتى په دوهمه نيټه د كابل جلال آباد پرلويه لار د دښمن پرپوستو عمليات وكړل . خبر زياتوى چې د دغو عملياتو په نتيجه كي د دښمن زيات شمير پوستى فتحه شوى او د كابل ـ جلال آباد لويه لار د ترافيكو پرمخ وتړل شوه .

د يو بل خبر له مخې مجاهدينو د سرخكان په سيمه

کی د مزدور رژیم پردوو پوځی مرکزونو عملیات وکړل چی د هغی په نتیجه کی یی دښمن ته زیات مالی او ځانی تلفات ورواړول .

کـابــل :

طبق را پور رسیده از ولایت کابل مجاهدین دلیرآن ولایت بتاریخ (۱۶) میزان بالای بعضی پوسته های امنیتی رژیم مزدور در اطراف شهر کابل عملیات مؤفقانه را انجام داده است .

خبر میفزاید که در نتیجه این عملیات موفقانه (۲۰) تن از ملحدین هلاك و (۳۰) تن دیگر شدیداً مجروح گردیدند و دو تن دیگر بادومیل ماشیندار (پی - کا) بدست مجاهدین قهرمان اسیر گردیدند . در جریان درگیري یك عراده تانك زرهی دشمن نیز تخریب گردیده است .

درین عملیات دو تن از مجاهدین دلیر مجروح ویکتن دیگر از آنها به مقام رفیع شهادت نایل گردید .

(انالله وانا الیه راجعون)

دکابل له ولایت څخه په یو رارسیدلی خبرکی ویل شوي دی چی د میزان د میاشتی په (۱۷) نیټه د کابل د ښار د کارته نو د سیمی اوسیدونکو مظاهره وکړه .

خبر زیاتوي چی دغه مظاهره هغه وخت پیل شوه چی

د مزدور رژیم د خاد غړو او عسکرو په کارته نو کی دکو رونو تلاشی کوله او کم عمره هلکان یی جبرا عسکری ته سو قول.

خبروای چی مظاهره کوونکو د روسانو مزدور رژیم پر ضد شعارونه ور کول، او د مزدور رژیم غند نه یی کوله .

د کابل له ولایت څخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی مجاهدینو د میزان د میاشتی په (۷) نیټه په ارگ باندي توغندي وتوغول. په خبر کی زیاته شوي ده چی ددغو توغندیو دلگیدوله امله دښمن ته زیات مالی او ځانی زیان اوښتی دی .

د یوبل خبر له مخی مجاهدینو د میزان په (۹) نیټه د مزدور رژیم د معادن او صنایع وزارت ودانی په توغندي وویشتله چی د هغی له امله (۸) تنه ووژل شول او (٦) تنه ټپیان شول .

کندهار :

به اساس گذارش واصله از ولایت کندهار مجاهدین دلیرآن ولایت میدان هوایی کندهار را بتاریخ (۱۰) میزان هدف راکت های (بی ایم ۱۲) قرار دادند که به اثر آن تورن جنرال ـ عبدالاحد معاون والی با سه تن صاحب منصب عالیرتبه رژیم مزدور به هلاکت

رسید .

طبق گذارش موتر جیپ حامل انان نیز طی این حمله از بین رفته است .

طبق گذارش دیگر مجاهدین یك روز قبل ازین حادثه (۲) تن اعضای خاد رژیم مزدور را در شهر کندهار دستگیر کرده اند .

دکندهار له ولایت څخه په یو را رسیدلی خبر کی ویل شوي دی چی د نوموړي ولایت میړنیو مجاهدینو د هوایی ډگر په شاوخوا د دښمن د محاصري کړی لا پسی تنگه کړي ده . په هغو عملیاتو کی چی په ۲۱ /۷ /۱۳٦۸ نیټه د مجاهدینو له خوا پر هوایی ډگر سرته ورسیدل د دښمن له قواوڅخه (۳۵) تنه ووژل شول او (۱۳) تنه یی ټپیان شول . (۳۰) باروړونکی موټرونه تخریب او د پوځی تأسیساتو ودانیو ته زیات نقصان ورسید .

هـــلمنـــد :

د اسلامی اژانس د خبر له مخی مجاهدینو د میزان د میاشتی په (۱۲) نیټه د لشکر گاه هوایی ډگر د توغند یو پواسطه تر هدف لاندي ونیو . چی د هغی په نتیجه کی دوه باروړونکی الوتکی تخریب شوی .

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو په نوموړي نیټه د دښمن په هغه اکمالاتی کتار حمله وکړه چی د لشکر گاه څخه د هرات ښار ته روان ؤ . خبر زیاتوي چی د دغه حملی په نتیجه کی د دښمن (٦٥) باروړونکی کا ماز موټرونه او (٤٥) نور پوځی موټرونه تخریب شول او دښمن ته درانه ځانی تلفات ورواوښتل .

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د میزان د میاشتی په (٥) نیټه د لشکرگاه پرښار د یو عملیات په نتیجه کی د خاد (٦) تنه غړي ونیول . ویل کیږي چی دغه د خاد یجنټان تر تحقیق لاندي دي او ډیر ژربه داسلامی شرعی احکامو په رڼا کی د خپلو اعمالو په سزا ورسیږي .

غـــزنـــی :

دغزنی له ولایت څخه په یو رارسیدلی رپوټ کی ویل شوي دی چی دنوموړي ولایت د جهاد عمومی شورا د پکتیا د ولایت د جبهاتو د مجاهدینو په گډون د سور کلی د مزدور رژیم پرپوځی موکزونو باندي د میزان د میاشتی په لسمه نیټه بریالی عملیات سرته ورسول چی د هغو په نتیجه کی د دښمن یو شمیر پوځی پوستي فتحه شوی . خبر زیاتوي چي په دغوبریالیو عملیاتوکی د دښمن له قواو څخه (۷۰) تنه ملیشه وژل شوي او یو زغره وال ټانك تخریب شوي دی . دري میله درنی ماشنگنی ، یو میل دمشکه او پنځه لس میله سپکه وسله مجاهدینو

په غنيمت نيولي ده .

خبر وايي چي د حق او باطل ترمنځ په دغه جګړه کي له قهرمانو مجاهدينو څخه (٤٥) تنه ټپيان او (١٢) تنو د خداى جل جلاله د رضا په لارکی د شهادت لوړ مقام و ګاټه .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د افغانستان د اسلامی اژانس د خبر له مخی د غزنی په ولايت کی د روسانو د مزدور رژيم (٢٠٠) تنه مليشه مجاهدينو تسليم شوي دی . خبر زياتوي چی دغه مليشه کسان چی اکثريی دګلان اوناوي د ولسوالی اوسيدونکی وو د ميزان په (٧) نيټه له

خپلو کورنيو سره د دغه ولايت هغو سيموته چی د مجاهدينو تر کنترول لاندي دی ، وکوچيدل .

لــــوګــــر :

دلوګر له ولايت څخه په رارسيدلی خبر کی ويل شوی دی چی د نوموړی ولايت ميړنيو مجاهدينو د ميزان د مياشتی په (٧) نيټه د بنی شيرافګان په اپراتيفی غنډ عمليات وکړل چی د هغی په نتيجه کی د دښمن له قواو څخه (١٠٠) تنه ووژل شول او (٧٠) تنه ژوندی ونيول شول .

خبر زياتوی چی د دغی بريالی حملی په ترڅ کی مجاهدينو يو محاربوي او دوه زرهپوش ټانکونه ، يو

موټر او ډول ډول درني او سپکې وسلې په غنيمت ونيولي . په دغه عملياتو کې د اسلام د حقې لارې له ننگياليو مجاهدينو څخه (٦) تنه ټپيان او دوو تنو د خداى جل جلاله د رضا په لاره کې د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ .

(انا لله وانا اليه راجعون)

بـــاد غيس :-

گذارش رسيده از ولايت بادغيس حاکى است که مجاهدين قهرمان آن ولايت بتاريخ ٢٢ /٧ /١٣٦٨ بر مراکز نظامى عساکر رژيم مزدور واقع در ولسوالى قادس حمله نموده که در نتيجه آن پنج تن از صاحب منصبان قواى رژيم مزدور هلاك گرديد . گذارش مىافزايد که مجاهدين طى اين عمليات چند مواضع دشمن را تخريب نموده وعده از عساکر مزدور نيز کشته ويا مجروح گرديده است . در گذارش آمده است که مجاهدين دلير اسلام درين عمليات چند ميل سلاح مختلف النوع روسى را به غنيمت گرفته است .

بغـــلان :

د اسلامى اژانس په يو خپور شوي خبر کى ويل شوي دى چى مجاهدينو د ميزان د مياشتى په لومړي نيټه د پلخمري ـ حيرتان د لاري په اوږدوکى د دښمن (١٥) امنيتى پوستى فتحه کړي . ويل کيږي چى دغو پوستو د نفت او گازد پايپ لاينو نو د ساتني دنده درلوده . خبر زياتوي چى په برياليو عملياتو کى د مزدور رژيم(٤٠) تنه عسکر وژل شوي او مجاهدينو زياته وسله او مهمات په غنيمت نيولى دى . د يو بل خبر له مخى مجاهدينو د ميزان د (١٨) نيټى په عملياتو کى د مزدور رژيم يو ټانك او يو د گازموټر د هغو ى سپرليو سره له منځه وړي دى .

پـــروان :

گذارشات رسيده از ولايت پروان حاکيست که بتاريخ ١ / ٧ / ١٣٦٨ مجاهدين دلير آن ولايت بالاى مرکز نظامى واقع دارلمعلمين ولايت پروان عمليات مؤفقانه را انجام داده است که در نتيجه ان (١٦) نفر از

قوای رژیم مزدور به هلاکت رسید و تعمیر دارلمعلمین نیز شدیدا خساره مند گردید .

سمنگـــان :

گذارش واصله از ولایت سمنگان حاکی است که مجاهدین دلیرآن ولایت بتاریخ (۳۱) سنبله بالای پوسته های کمر بند امنیتی اطراف شهر ایبک حمله نموده که در نتیجه آن (۲۵۰) تن از قوای رژیم مزدور هلاك شده و (۵۰) تن دیگر مجروح گردید .

راپورمی افزاید طی این عملیات موفقانه (۱۸) پوسته امنیتی رژیم مزدور بدست مجاهدین فتح وغنایم زیاد را بدست اورده است .

د مزدور رژیم یوه مگ (۲۱) الوتکه د پیښور په هوایی ډگر کی راښکته شوه

دخپور شوي خبر له مخی د صفري د میاشتی په ـ (۳۰) نیټه د مزدور رژیم یو مگ (۲۱) جنگی الوتکه د پیښور په هوایی ډگر کی راښکته شوه . خبر زیاتوي چی د

الوتکی پیلوټ چی جلال الدین نومیږي د خپلو خبرو په ترځ کی یی ویلی دی چی ماته دا وظیفه راکړل شوی وه چی په جلال آباد کی د مجاهدینو پر سنگرونو بمباری وکړه ، خو ما د موقع نه گټه واخیسته او د پیښور په هوایی ډگر کی راښکته شوم

ویل کیږی چی نوموړي په خپلو خبرو کی دا هم ویلی دي چی اوس هم د مجاهدینو په سنگرونو او نورو بي دفاع ولسی خلکو باندي د روسی پیلوټانو له خوا بمباري کیږي .

یك جنرال قوای روسیه عاملین تجاوز به خاك افغانستان را معرفی نمود

طبق خبر رادیو (بی بی سی) بتاریخ (۱۵) میزان یك جنرال قوای روسی ضمن مصاحبه با نشریه هفتگی ((ارکو مانتی)) چاپ روسیه چهار تن از رهبران سابق اینکشور را مسئوول تجاوز نظامی شوروي برخاك افغانستان معرفی نمود .

جنرال روسی گفته است که ((یوري اندروپوف)) رئیس سابق سازمان (کی جی بی) به همراه ((برژنیف)) ، ((گرومیکو)) وزیر خارجه شوروي و ((اوستیف)) وزیر دفاع روسیه از طراحان اصلی تجاوز نظامی روسیه بر افغانستان بودند .

براساس این گذارش ((الکسا ندر دازا سرخوف)) رئیس مالی رهبري روسیه اخیراً خواست تا درمورد چگونگی تصمیم به مداخله نظامی روسیه در افغانستان توضیحات مشروطی داده شود .

اعلامیه
حکومت مؤقت اسلامی افغانستان

اخیراً حکومت مؤقت اسلامی افغانستان اعلامیه مبنی برمشی سیاسی واهداف صلح جو یا نه اسلامی خویش و تعیین وفدي براي اعزام به نیو یارك به منظور اشتراك در اجتماعات وزرای خارجه دول جهان و تقاضای تفویض کرسی افغانستان به نماینده این حکومت که ممثّل واقعی مردم کشور اسلامی افغانستان است اعلامیه به نشر سپرده . درینجا ما اعلامیه مذکور را برای اطلاع خوانندگان محترم مجله منبع الجهاد تقدیم می کنیم

بسم الله الرحمن الرحیم

سپاس مرخدای عظیم را ودرود برپیا مبرکریم وي

ما در حالیکه به جهاد مسلحانه خویش بخاطر آزادی کشور وقایم نمودن یك نظام اسلامی دران دوام داده و به منظور مستقر نمودن حکومت مجاهدین در داخل کشور مساعی خویش را روزافزون ساخته ایم یکبار دیگر اعلان میداریم که حق تعیین سرنوشت افغانستان وتصمیم گیري به ارتباط آیندهٔ ان فقط و فقط از انانیست که بخاطر آزادي ان خون وعرق ریختند و رنج و محنت را قبول کرده اند .

ما به این عقیده استیم که یگانه راه سریع حل معضله افغانستان تائید حکومت مجاهدین و دست برداشتن از حمایه رژیم مزدور کابل است .

حکومت ما بلا مبالغه اولین حکومت خواهد بود که از بیشترین نسبت نمایندگی ملت برخوردار است . مردم دنیا باید از حکومت ماتشویش نداشته باشند ما بالای کسی تجاوز نه کرده ایم و نه در فکر تجاوز استیم و شما همه دیدید که جهاد مابخاطر دفاع از حریت واصالت اسلامي کشور و بیرون راندن تجاوزگران وقایم نمودن نظام دلخواه مردم مسلمان ما آغاز گردیده ودوام دارد ما مظلوم استیم نه ظالم ، مدافع بودیم نه تجاوز گر . ما در آینده در فکران هستیم تا باهمسایگان خود در چوکات اسلامی روابط داشته باشیم . مناسبات ما باکشورهای اسلامی که از جهاد ما حمایه نموده کاملا برادرانه خواهد بود و علایق ما با پاکستان از امتیاز خاص برخوردار میباشد . کشور های آزادیکه دایم ما را تایید نموده روابط ما با انها تا جائیکه اسلام به ما اجازه میدهد مستحکمتر خواهد شد حتی اگر روسها از تجاوز دست بردارند و به حق خود ارادیت ما به دیده قدر ببینند و به آزادي ما و فیصله مجاهدین

احترام بگذارند و به حکومت مااعتراف نمایند و از مزدوران خود بیش ازین حمایه نکنند حاضریم باانها در صورتیکه جبران خساره را که به ملت افغانستان رسانیده اند تادیه بدارند وعدم مداخله خود را درآینده متعهد شوند علایق همسایگی خوب داشته باشیم. روسها و همه دنیا باید بدا نند که تلاش در مقابله با اراده ملت ها کار بیهوده است بالخاصه ملتیکه از تائید و نصرت ایزدی بهره مند باشد. بهتر است روسها راجع به آینده خود وعلایق کشور خود باافغانتسان و منطقه خوب بیندیشند وتصمیم بگیرند استمرارد رسیاست فعلی شان در قبال قضیهٔ افغانستان نه به نفع آنها ونه به مصلحت ملت شان ونه به خیر منطقه و نه به نفع صلح جهانی خواهد بود .

حکومت ما در آینده در روشنی سیاست اسلامی خویش یکی از حامیین بزرگ صلح و صلاح در دنیا خواهد بود و هر آنچه که بخیر و بهبود بشریت است ازان پشتیبانی نموده و در برابر انچه باعث فشار و تباهی وخرابی انسانها میگرد د قرار خواهد داشت .

حکومت ما درامحای مواد مخدره که منع ان را بیش از چار ده صد سال قبل پیشوای اسلام حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلام نموده بوده و مقابله با ان سهم بارز خواهد داشت حکومت از سیاست بیطرفی فعال و مثبت در چوکات اصول اسلامی پیروي نموده و از حقوق مردم مظلوم و مستضعف که شریعت غرای اسلام حمایت انها را توصیه می نماید حمایه خواهد کرد .

يك هیأت حکومت ما به عضویت داکتر فاروق وزیر تعلیم وتربیه حکومت مذکورو محمد یاسر مشاور صدارت عظمی به نیو یارك میرود و در انجا در اجتماعات وزرای خارجه کشور های اسلامی اشتراك نموده وهمچنان از ملل متحد تقاضا خواهد کرد تا این مؤسسه به پیروي از سازمان کشور های اسلامی کرسی افغانستان را به حکومت مجاهدین بسپارد . تفاهم برروي مسئله شامل ساختن تنظیم های افغان مقیم ایران در حکومت جریان داشته و علاوه بران شخصیت های اسلامی دیگر نیز در حکومت داخل خواهد شد .

همچنان تفاهم ما با برادر حکمتیار ادامه دارد و مشکلات بیسطی که وجود دارد انشاءالله حل خواهد شد . دروازه حکومت واشتراك در جلسات آن بروي شان بالکل باز است .

مولوی غلام حقانی د منبع العلوم
د مدرسی مدرس

د جهاد فضایل

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وبعد !

د اسلام مقدس دین جامع مکمل او معتدل دین دی چی دفطری اصولو او طبعی قواعدو له مخی پکی ټول امور علماً تشخیص شویدی او د اصولو له مخی ځنی چاری حسن لذاته ، ځنی حسن لغیره ، ځنی قبیح لذاته او ځنی نوری قبیح لغیره وی . وسله وال جهاد ژوبله او مرگ که څه هم په یو سطحی نظر کی مشکل ښکاری خو د علمی بصیرت خاوندان پوهیږی

چی په هغه کی حسن موجود دی هغه حسن د کلمة الله اعلا او د الهی عدل قیام دی . نو الله تعالی په هیڅا باندی دهغه دقدرت څخه پورته تکلیف نه تحمیلوی بعضی اشخاصو ته په ظاهر سخت وی خو په نتیجه کی عمومی اسانتیا وی مینځته راځی لکه قران کریم داعراف د سورة « ٤٢ » اية کی فرمائي :

« والذین امنوا وعملوا الصلحت لانکلف نفسا الا وسعها أولئك اصحب الجنة هم فیها خلدون ٥»

ترجمه: « او هغه کسان چی ایمان یی راوړیدی او نیك کارونه کوی نه مکلف کوو مونږ هیڅوك مګر په اندازه د طاقت دهغه دغه کسان یاران د جنت دی چی دوی به په هغه کی همیشه وی» جهاد په حقیقت کی د ظلم او استکبار لری کول او د عدل او امنیت مینځته راوړل دی د قرآن کریم دا حکم د بقره د سورة «۲٤٦» آیة کی داسی راغلی دی : « الم تر الی الملامن بنی اسرائیل من بعد موسی اذ قالو النبی لهم ابعث لنا ملکا نقاتل فی سبیل الله .... الایة اوهمدا رنګه ددی آیه په بله برخه کی فرمایی : قالوا ومالنا الا نقاتل فی سبیل الله وقد اخرجنا من دیارنا وابنائنا»

ترجمه: « او څه دی مونږ لره چی جهاد نه کوو په لار د الله تعالی کی او حال دا چی مونږ ویستل شوی یو دکورونو خپلو نه او اولادونو خپلونه.

جهاد سبب دی دحاصلولو دجنت لکه الله تعالی په قرآن کریم کی دالتوبه دسورة «۱۱۱» آیة کی ارشاد کوی: « ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم واموالهم بان لهم الجنة یقاتلون فی سبیل الله فیقتلون ویقتلون وعدا علیه حقا فی التورائة والانجیل والقران ومن او فی بعهده من الله فاستبشروا ببیعکم الذی بایعتم به و ذلك هو الفوزالعظیم ٥»

ترجمه: « بی له شکه الله اخیستی دی له مؤمنانو څخه نفسونه د دوی اومالونه ددوی په عوض د دی کی چی دوی ته په تحقیق سره جنت دی چی جنګونه کوی د الله تعالی په لارکی نو وژنی کفار کله دوی وژل کیږی دوی ته د الله وعده په تورات او په انجیل او په قرآن کی حقه ده او څوك دی ښه وفا کوونکی په وعدی خپلی سره دالله څخه نو خوشحاله شی تاسی پخپله بیع سره چی الله تعالی سره مو معامله کړیده په هغه او دغه بیع ډیر لوی بری دی .» د مال ځان او سر رښند نه د جنت دګټلو په مقابل کی معامله ده چی مؤمنان ئی په پوره میړانی سره کوی نو پدی معامله کی د دنیا او آخرت کامیابی ده.

دجهاد د فضیلت په هکله د صحیح نسائی په یو حدیث کی دابی سعید خدری رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی: « عن ابی سعید الخدری ان رجلا اتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال ای الناس افضل فقال رجل یجاهد فی سبیل الله بماله ونفسه قال ثم من قال مؤمن فی شعب من الشعاب یعبد ربه .... الحدیث.» رواه النسائی.

ترجمه: په تحقیق سره یوسړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وئی ویل چی ای د خدای رسوله کوم خلك ډیر غوره دی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه څوك چی د خپل ځان او مال سره د الله تعالی په لارکی جهاد کوی هغه وویل چی

بیا څوك ډیرغوره دی ای دخدای رسوله! هغه وفرمایل بیا هغه مسلمان چی د درو په یوه دره کی هستوګنه کوی او د الله تعالی څخه ویریږی او عبادت یئ کوی او خلك دهغه له شره څنی په امان کی وی. د نسائی په یو بل حدیث کی دابوهریره څخه روایت دی چی « عن ابی هریره «رض » قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایلج النار من بکی من خشیة الله تعالی حتی یدخل اللبن فی الضرع ولایتجمع علی عبد غبار فی سبیل الله و دخان جهنم» (رواه ترمذی)

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی د الله تعالی په لاره کی ګرد او د دوزخ لوګی دیو بنده په باطن کی هیڅکله نه یو ځای کیږی او بخل او ایمان هیڅکله دیو بنده په زړه کی نه یوځای کیږی نو په چا چی جهاد کی ګردپریوزی د دوزخ څخه نجات مومی جهاد ډیر ستر عبادت دی نو اجرونه او ثوابونه ئی هم زیات دی . له ابوهریره رضی الله تعال عنه څخه روایت دی چی: (وعنه قال قیل للنبی صلی الله علیه وسلم ما یعدل الجهاد فی سبیل الله قال لایستطیعونه قال فاعادوا علیه مرتین او ثلثا کل ذالك یقول لایستطیعو نه قال فی الثالثه مثل المجاهد فی سبیل الله کمثل الصائم القائم القانت بایات الله لایفتر من صیام ولاصلوة حتی یرجع المجاهد فی سبیل الله تعالی رواه البخاری وقوی الامام مسلم هذالحدیث باسانید اخری صحیحه)

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل شو ، کوم څیز جهاد فی سبیل الله سره معادل دی هغه وفرمایل چی دهغه استطاعت نه لری هغه دوه واره یا دری واری خپله پو ښتنه تکرار کړه هر ځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی استطاعت ئی نلری بیائی وفرمایل د الله په لار کی مجاهد دروژی نیونکی شپه په عبادت دریدونکی د قرآنکریم تلاوت کوونکی په مثل دی چی په لمانځه او روژه کی

سستی نه کوی. ترڅو چی د الله تعالی په لار کی مجاهد بیرته راګرځی « صحیح البخاری »

بل حدیث شریف کی دعقبه بن عامر نه روایت دی چی « و عن عقبه بن عامر قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ان الله تعالی یدخل بالسهم الواحد ثلثة نفر الجنة صانعه یحتسب فی صنعته الخیر والرام به و منبله وارموا وارکبوا وان ترموا احب الی من ان ترکبوا کل شئ یلهوبه الرجل باطل الارمیه بقوسه و تادیبه فرسه وملاعبته امرأته فانهن من الحق رواه الترمذی وابن ماجه و زاد ابوداود والدارمی ومن ترك الرمی بعد ما علمه رفبة عنه فانه نعمة ترکها او قال کفر ها مشکوة ٤٣٧ »

ترجمه: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی چی فرمایلی دی چی خدای پاك په یو غشی سره دری کسان جنت ته داخلوی (١) د غشی جوړونکی چی غشی دثواب په نیت دجهاد لپاره جوړوی (٢) دغشی ویشتونکی یعنی هغه څوك چی غشی په جهاد کی استعمال کړی (٣) دغشی ورکوونکی غشی ولی اوپه آسونو سورلی کوی ماته ستاسو غشی ویشتل او ستاسو دآسونو سورلی غوره ده .. هر هغه شی چی په هغه سره سړی عبث کوی هغه باطل دی مګر په لینده نښه ویشتل او خپل آس لره زده کړه ورکول او دخپلی ښځی سره لوبی کول دا باطل ندی بلکه داکارونه حق دی!

پدغه سره ثواب حاصلیږی دا حدیث دمشکوة په (٣٣٧) مخ کی د ترمذی او ابن ماجه په حواله راغلی دی.

په یو بل حدیث شریف کی د ابوهریره (رض) په روایت سره رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی چی « عن ابی هریره رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من احتبس فرسا سبیل الله ایمانًا بالله وتصدیقا بوعده فان شبعه وریه وروثه وبوله فی میزانه یوم القیمة رواه البخاری مشکوة ٣٣٦ »

ترجمه: چا چی د جهاد فی سبیل الله په نیت خپل آس وساته او ایمان په الله تعالی او تصدیق ئی په وعده دهغه ؤ نو ددغه آس واښه، اوبه خارشنه متیازی به په ورځ د قیامت په تله دنیکی دهغه کی تللی شی. (بخاری او مشکوة ٣٣٦ مخ)

بقیه صفحه « ۳۱ »:

هر آئینه الله دوست میدارد کسانی را که درراهش در یك صف میجنگند گویا ایشان بنای محکم اند.
این بود نمونه ای یك مجاهد راه حق و موقفش در برابر ستمگریهای دشمن که از ان تذکری بعمل آمد وبرای پیروان مکتب اسلام درس عبرت میباشد.

د حق لارې قربانیان

د شهید شاکرین جهاد یار لنډ پیژند لیک

دهغو نومیالیو او ننگیالیو مجاهدینو په ډله کی چی
د جهاد ویاړلی کارنامی یی زمونږ د اسلامی انقلاب
په تاریخ کی په زرینو کرښو ثبت دي یو هم شاکرین
جهاد یار د حاجی محمد الدین زوي ؤ چی په -
(۱۳۳٥ هـ ش) کال د پکتیا ولایت د درگی
ولسوالی دلغري په کلی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړي د خپلی سیمی په کلیوالی ښوونځی کی
لومړنی زده کړه وکړه او بیا د دینی علومو د زده
کړي په تکل د نکی ځدرانو ته لاړ دري کا له یی

هلته زده کړه وکړاو بیاد زده کړې پسی د زرمت شاهی کوټ سیمی ته ورغی او همدارنګه یی د خوست په شا وخوا سیموکی څه موده د دینی علومو په زده کړه تیره کړې وه خو تنده یی پرې نه وه ماته شوې د لوړې دینی زده کړې په هیله اسلامی هیواد پاکستان ته لاړ او د اکوړه خټك په حقانیه دارالعلوم کی یی په زده کړه پیل وکړ څلور کاله یی په نوموړې مدرسه کی د دینی علومو په زده کړه تیر کړل ، بیرته خپل هیواد ته ستون شو یو کال یی په خپله سیمه کی په تحریکی جهاد کی برخه واخیسته او بیا چی کله په (۱۳۵۷ هـ ش) کالی کی د روس نوکرانو د خپلو بادارانو په ملاتړ او حمایت په افغانستان کی دکمونستی الحادې کودتا په نتیجه کی قدرت تر لاسه کړ نو موړې دکفر او الحاد پرضد وسله وال جهاد کی برخه واخیسته د دین دښمنانو په مقابل کی یی په ډیرو جهاد عملیاتو کی برخه واخیستله او هغوې ته یی د سر او مال درانه تلفات ورواړول . چی دلته د نمونی په توګه د څرې ګردیز ، زرمت خندق قوې د خوا زکو لویی قوې ، ګومل ، اورګون او .... په عملیاتو کی دده فعال رول په یادولو اکتفاء کوو .

شاکرین جهاد یار په (۱۳۵۸ هـ ش) کال کی دالحاج مولانا جلال الدین (حقانی) له خوا دخوست د جبهاتو د عمومی قوماندان په توګه وټاکل شو .

بالاخره دغه زړه ور مجاهد قوماندان په (۱۳۶۱ هـ ش) کال د حوت په پنځمه نیټه د برې په تاڼه کی له ملحد دښمن سره دیوې مخامخ جګړې په ترڅ کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید قوماندان ګل جمیر لنډ ژوند لیك

د هغو مجاهدینو په ډله کی چی ویاړلی جهادی کارنامی به یی زمونږ د اسلامی انقلاب په تاریخ

کی د تل لپاره په زرینو کرښو ثبت وی یوهم ګل جمیر د خواجه میرزوی ځ چی په ۱۳۳۳ هـ ش کال کی د خوست د علیشیرو د متاخیلو د کلی په

یوی غیرتی کورنی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی لومړنی زده کړه د خوست د علیشیرو په منځنی ښوونځی کی ترسره کړه او په ۱۳۵۴ هـ ش کال کی یی خپله لوړه زده کړه په حربی پوهنتون کی سرته ورسوله او له فراغت څخه وروسته په اردو کی صاحب منصب شو کله چی د روسانو په ملاتړ د هغوی مزدورانو کمونستی کودتا وکړه ، نوموړی په دغه وخت کی پخپله قطعه کی دلو مړی برید من په توگه وظیفه اجراء کوله ،

په همدغه وخت کی یی د کمونستانو او ملحدینو پر ضد مبارزه پیل کړه ، او د کمونست رژیم پرضد د عسکرو او صاحب منصبانو تحریکولو ، د شب نامو تیتولو او په عسکری قطعو کی د بمونو په چولو سره یی خپله اسلامی وظیفه او رسالت تر سره کاوه . په ۱۳۵۸ هـ ش کال یی له خپلی کورنی سره اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ او وروسته بیا د وسله وال جهاد تاو ده سنگر ته ورغی .

اکثر وخت یی د ټولو جهادی تنظیمونو د گډو جهادی عملیاتو په پروگرام کی د عمومی قوماندان په توگه له مسوولیته ډکه وظیفه په ډیر ښه شان سره سرته رسولی ده او هر ځل یی د دین او وطن دښمنانو ته د سر او مال درانه تلفات و راړولی دی .

بالاخره د حقی لاری دغه نومیالی مجاهد او اتل قوماندان چی خاص د خدای جل جلاله د رضا او اعلای کلمة الله لپاره یی په وسله وال جهاد پیل کړی ؤ په ۱۳٦٦ هـ ش کال کی د ځاځی میدان د گردی خونه په پوسته باندی د عملیاتو په وخت کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انالله وانا الیه راجعون)

دشهید عبدا لله لنډ ژوند لیک

د افغانستان د مسلمان ملت د جهاد د تاوده سنگر نومیالی قوماندان عبدالله په ۱۳۳۵ ه ش کال د پکتیا د جاني خیلو د ولسوالی دکوټگی د کلی په یوه دینداره کورنی کی زیږیدلی ؤ . شهید عبدالله د اولیك خان زوی و چی هغه د خپل ولس یو ایمانداره سپین ږیری ؤ .

عبدالله خپله زده کړه دجاني خیلو په لیسه کی ترلسم ټولگي پوري بشپړه کړه او د کابل ښار والي په بیلو بیلو څانگو کې یې ماموریت هم کړی ؤ . وروسته یې بیا دثور دکرغیړنې کودتا سره سم د خپلو مجاهدو

ورونو په ليکه کې وسله وال جهاد پيل کړ . دغه تکړه مجاهد د جهاد له پيل څخه تر پايه پورې دالحاج مولانا جلال الدين حقاني تر قيادت لاندې جهاد وکړ . په ډيرو جهادي عملياتو کې يې ديوتکړه قوماندان په توگه برخه درلوده او ملحد دښمن ته يې هر ځل د سر او مال درانه تلفات وراړولي دي ؛ چې دلته يې يوازې د جاني خيلو ، موسى خيلو ، څکمنيو د ولسوالۍ ، دليڅې د علاقدارۍاو سرحدي پوستو فتحه کولو اوپر جلال آباد باندې د عملياتو په يادونه اکتفا کوو .

بالاخره داسلام د حقې لارې دغه ننگيالی مجاهد د ۱۳۶۸ هـ ش کال د ثور د مياشتی په (۲۱) نيټه د منگلو دکوټکی په کلی کی په داسی حال کی شهيد کړای شو چې ددښمن پرضد يې د يو ستر جهادي ماموريت دبشپړيدو لپاره هلې ځلې کولې .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد فضل گل لنډه پيژندنه

د هغو توريالیو مجاهدينو په ډله کی چی خاص د خدای جل جلاله د رضا لپاره يی د کفر او الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد پيل کړی ، يو هم فضل گل د خان زکی زوی ؤ چی په ۱۳۱۴ هـ ش کال کی د پکتيا د ولايت د نکی د توری خيلو په کلی کی زيږيدلی ؤ .

نوموړی په (۱۳۵۷) کال په افغانستان کی د ملحدو کمونستانو د کودتا څخه وروسته اسلامی هيواد پاکستان ته مهاجر شو او بيايی په همدغه

کال د ملحدينو پر ضد وسله وال جهاد پيل کړ . د پکتيا او پکتيکا د ولايت د مجاهدينو په ډيرو عملياتو کی يی په ميړانه فعالانه برخه اخيستی او هر ځل يی د دين او وطن دښمنانو ته سر او مال درانه تلفات ور اړولی دی چی دلته يی يوازی دارگون ترمری تانی د فتحی ، دگوملی په ولسوالی کی د عملياتو ، ډبگی ، شهرنو او خوست د جنگونو په يادونه اکتفاء کوو .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه نوميالی مجاهد په ۱۳۶۴ هـ ش کال کی د دښمن د جيټ الوتکی د راکټ په ذريعه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انالله وانا اليه راجعون .

د شهيد حسن گل لنډه پيژند گلوی

د هغو ميړنيو مجاهدينو په ډله کی چی د جهاد

وياړلی کارنامی يی زمونږ د اسلامی انقلاب په تاريخ کی په زرينو کرښو ثبت دی يو هم حسن گل د شهيد فضل گل زوی ؤ چی په ۱۳۳۸ هـ ش کال د نکی د توری خيلو په کلی کی زيږيدلی ؤ .

نو موړی لومړی د خپل کلی په مدرسه کی دری کاله دلومړنيو دينی علومو په زده کړه تير کړل او بيا يی دوه کاله د منظر خيلو مدرسه کی زده کړه وکړه .

د کفر او الحاد په مقابل کی يی د وسله وال جهاد په جريان کی له نورو مجاهدينو سره يو ځای د پکتيا او پکتيکا په ډيرو جهادی عملياتو کی برخه اخيستی چی دلته يی دنمونی په ډول د ارگون د ترمری د تانی د فتحی ، د پکتيا د ډبکی تانی ، ليژه ، شهرنو په جهادی عملياتو کی ددهٔ د برخی



اخيستنی يادونه کوو .

بالاخره دغه نوميالی مجاهد د گرديز د تيری په مورچو باندی په داسی حال کی چی د مجاهدينو د يوی ډلی قوماندان ؤ ، له دښمن سره په جگړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

اناالله وانا اليه راجعون

دشهيد پاچا خان لنډ ژوند ليك

د مغو قهرمانانو له جملې څخه چې خپل سرونه يی

د خدای (ج) د رضا او داعلای كلمة الله په خاطر د قربانی ډگر ته وړاندي كړي،يو هم پاچا خان نوميده .

نوموړی د تور خان زوی او په قوم فتحه خيل كوچی ؤ،چی له نن نه تقريبا (٤٣) كاله پخوا دلوگر ولايت دكلنگار په ولسوالی كی زيږيدلی ؤ .

په (۱۳٦۱ هـ ش) كال كې يې د ملحدينو او كمونستانو پرضد د حاجي صاحب عبدالمنان تر قيادت

لاندې په وسله وال جهاد پيل وکړ . په ډيرو عملياتو کې
يې په ميړانه ددښمن مقابله وکړه ، خصوصاً ډبرې پوستې
په فتحه کولو کې يې ډېر زيات شهامت او قهرماني
وښودله .

په ۱۳٦۳ هـ ش کال کې يې دژوري په سيمه کې
ددښمن د بمبارۍ په ذريعه د شهادت لوړ مقام په برخه
شو .

(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد سميع الله لنډه پيژندنه

دالحاد او کمونيزم پرضد د افغانستان د مؤمن ملت
د وسله وال جهاد دا تلو او ننګياليومجاهدينو له
جملې څخه يوهم سميع الله خان د حاجي حبيب
نور زوی ؤ چې په ۱۳۴۷/۷/۱ نيټه د پکتيا د
ولايت د خوست د متون د کوړيانو په کلي کې
زيږيدلی ؤ .

که څه هم نوموړی په يوه عالمه کورنی کې
سترګی نړی ته پرانستی وی ، خو زده کړه يی نه
وه کړی کله چی په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی د
روسی نوکرانو ملحدو کمونستانو په افغانستان کی
کودتا وکړه نو موړی په دی وخت کی (۱٦) کلن
زلمی ؤ ، له همدغه وخت څخه يی په وسله وال
جهاد پيل وکړ اوله مولوی صاحب نظام الدين
حقانی سره يی ارتباط ونيو . په ۱۳۵۷/۱۲/۱۵
نيټه له خپلی کورنی سره اسلامی هيواد پاکستان
ته مهاجر شو او بيا بيرته د مولوی صاحب قادر
محمد سره چی د ګربزو مولوی صاحب په نوم
مشهور ؤ ، د وسله وال جهاد سنګر ته لاړ ، او د نو
موړی مولوی صاحب تر قوماندی لاندی يی د
ګرديز ، زرمت ، څدرانو او دومنده سيمه کی له
مجاهدينو سره يو ځای په جهادی عملياتو کی
برخه واخيسته او هر ځل يی په ډيره ميړانه سره د
ملحد او وحشی دښمن مقابله وکړه او مرګونی
ګوزارونه يی ورکړل . کله چی مولوی صاحب قادر
محمد د خدای د رضا په لار کی د شهادت مقام ته
ورسيد نو موړی له ډيری خواشينی څخه د وسله
وال جهاد له سنګر څخه راغی او ايران ته لاړ ، يو
کال يی په ايران کی تير کړ خو له جهاد سره
زياتی مينی او دينی جذبی هغه هلته ارام پری
نښود او بيرته د وسله وال جهاد سنګر ته
ورروست . دا ځل يی د حاجی عبدالرحمن په ګروپ

کی د دښمن پر ضد وسله وال جهاد پیل کړ .
نوموړی دبمونو په ایستلو او خنثی کولو کی پوره استعداد در لود ، وایی چی یوازی د لیږی تانی د فتح کولو په وخت کی یی تقریباً (۳۵۰) دری سوه پنځوس ماینونه ایستلی او خنثی کړی وو ، د توپونو استعمال یی هم له قوماندان خان ولی او اسمعیل خان څخه زده کړی ؤ .
دده د خپلو انو په وینا له شهید کیدلو څخه یوه هفته د مخه یی په مرکز کی خپل کشر ورور معروف الله ته ویلی ؤ چی زه شهید کیږم خو زما دا څو بیتونه د نشانی په توګه ولیکه او له ځان سره یی وساته . هغه جهادی لنډی دادی :

خدای می شهید تر هغه نه کړی
چی بخارا آزاده نه کړمه مینه
شهید به شم پاتی به نه شم
پوره به نکړم په د هریانو آرمانونه
څو د شهید بدل وانخلم
نو تر قیامته به په ګور کی پریشان یمه
که په چړو ټوټی ټوټی شم
هیر به می نشی د یتیمو فریادونه
زما قسم په هغه ذات دی
چی پیدا کړی یی دی ځمکی آسمانونه
تر څو چی روح می په بدن وی
د ملحدانو به زه تخم ورکومه
خلقی پرچم ته به شانکړم
که په ما اوری د ګولیو بارانونه
نن می سنګر ته زړګی کیږی
یقین می دی چی شهادت می نږدی وینه
دا سوال می ته قبول کړی خدایه !
چی بی تکلیفه شهادت می نصیب شینه
را کړی رخصت ځمه سنګر ته
الله خبر چی بیامو وشی دیدنونه
نن می په ځیر ځیر باندی ګوره
د میرام شاه له بازارونه سبا ځمه

او بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه زړور مجاهد په ۲۷ /۱۲/ ۱۳٦۷ نیټه خپل ځان د اسلام د مقدس دین نه قربان کړ ، ارزویی ترسره او شهادت یی په برخه شو .
انالله وانا الیه راجعون

د شهید دایم خان لنډ ژوند لیك

د اسلام د حقی لاري د هغو نومیالیو مجاهدینو په ډله کی چي خاص د خدای جل جلاله د رضا او اعلای کلمة الله په خاطر یي دکفر او الحاد په مقابل کي وسله وال جهاد کا وه ، یو هم دایم خان د حاجی تره کی زوي ؤ .
نوموړي په (۱۳۳۵ هـ ش) کال کی د پکتیا ولایت د خوست په لویي ولسوالی کي دي فاني نړي ته سترګی پرانیستی وي .
په (۱۳۵۷ هـ ش) کال کي د ثور د خونړي

کمونستي کودتا څخه لږه موده وروسته اسلامي هیواد پاکستان ته مهاجر شو او بیایي د الحاج مولانا جلال الدین (حقانی) تر قوماندی لاندی وسله وال جهاد پیل کړ . او بیا وروسته ورته د مجاهدینو د قوماندانی د روند مسئوولیت ورپه غاړه شو . په ډیرو زیاتو جهادي عملیاتو کي یي برخه درلوده او هر ځل یي دښمن ته د سر او مال درانه تلفات ورواړول . ډیري زیاتي فتحی ورپه برخه شوي چی دلته دنموني په توګه د پکتیکا د ولایت د ترمري فتحه د ګوملي ولسوالی او د زیړُک فتحه او د شاهی کوټ په عملیاتو کی د ده دفعال رول یادونه کوو .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په (۱۳٦۱ هـ ش) کال د لیژي په منطقه کی د دښمن د توپ د ګولی په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید حمد الله لنډه پیژندنه

زمونږ اسلامی انقلاب دهغو قهرمانانو په ډله کی چی خاص د خدای جل جلاله د رضا او د اعلای کلمة الله لپاره یی وسله وال جهاد پیل کړی،یو هم حمد الله دی.

دغه نومیالی مجاهد د عبدالقیوم زوی دپکتیا د ولایت دوزي د ولسوالی د فخری ځدرانو اوسیدونکی ؤ .

نوموړي د جهاد له پیل څخه د شهادت تر وخته پوري په پوره میړانه او ایمانی جذبه د ملحدو کمونستانو پرضد جهاد کړی او د بیلو-بیلو عملیاتو په لړکي یی د

دین او وطن دښمنانو ته درانه تلفات وراړولي دي . چې
دلته یې یوازې دربګی جګړې ، دخوست جګړې ،
دتریزی جګړې او دارمی علاقدارۍ دفتحی د عملیاتو په
یادونه اکتفا کوو .

د اسلام د لارې دغه ننګیالی مجاهد د جهاد په لومړیو کلونو کې د ۲٤ کالو په عمر هغه وخت د شهادت لوړ مقام ته ورسید چې دسټو کندو په سرك کی یې دراروني ملحدی قوا لپاره باروت خښول، او انفلاق یې وکړ .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید جمعه خان ژوند لیك

د خدای (ج) د لارې مجاهد جمعه خان ، د خان محمد زوی، په قوم فتحه خیل کوچی او د لوګر ولایت دکلنګار د ولسوالی او سیدونکی ؤ .

نوموړي په (۱۳۵۹ هـ ش) کال کې د حاجي

عبدالمنان تر قوماندې لاندې د کفر او الحاد په مقابل کې جهاد پیل کړ ، د ملحدینو پرضد یې په ډیرو عملیاتو کې برخه اخیستې وه . د خوست مربوط د تورکمر دسنګې په سیمه کې یې د دښمن دایښودل شوي مین په ذریعه پښه ژوبل شوه او ترڅو میاشتو پورې تر تداوۍ لاندې ؤ ، کله چې جوړشو د اسلامي عقیدی په مینه او جذبه بیا د جهاد سنګر ته ورغی او په ډیره لوړه روحیه یې ددښمن پرضد جهاد ته ادامه ورکړه .

نوموړي د جهاد په جریان کې دخرڅین ، لکن ، جلالي ، ژورې ، برې او تور غره په عملیاتو او فتوحاتو کې ګډون درلود .

د اسلام د لارې دغه نومیالی مجاهد د ۱۳۶۸ هـ ش کال د روژې د مبارکې میاشتې په یوولسمه نیټه د جلال آباد پرښار بریدې د حملې په وخت له دښمن سره په مخامخ جګړه کې د شهادت مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید مولوی عبدالغفور لنډ ژوند لیك

د اسلام حقی لاری د نومیالیو مجاهدینو په ډله کی چی نومونه یی د افغانستان د اسلامی انقلاب په تاریخ کی په زرینو کرښو ثبت دی ، یو هم مولوی صاحب عبدالغفور خان ؤ چی د قوماندان صاحب ګلام خان زوی او په ۱۳۳۸ هـ ش کال کی د ځاځی میدان د علی سینګو په کلی کی زیږیدلی و .

نو موړی په بیلو بیلو ځایونو کی د دینی علومو زده کړه وکړه او کله چی په ۱۳۵۷ هـ ش کال

کی په افغانستان کی د ملحدینو له خوا خونړی کود تا وشوه ، د ځاځی میدان په اولسوالی کی یی د نورو مجاهدینو ترڅنګ د کمونستانو پر ضد وسله وال جهاد پیل کړ .

په ۱۳۵۸ هـ ش کال کی یی اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ . نوموړی د وسله وال جهاد تر څنګ خپلی زده کړی ته هم ادامه ورکوله ، په ۱۳٦۷ هـ ش کال یی دکوهاټ د پراچه ګانو له مدرسی څخه د فراغت سند ترلاسه کړ او کله چی له مدرسی څخه فارغ شو ، بستره او کتابونه کورته ولیږل او د جهاد سنګر ته و لاړ .

د اکبرالدین او مولوی صاحب میرداد تر قوماندی او قیادت لاندی یی جهاد کاوه . د ملحد دښمن پر ضد یی د پکتیا په مختلفو سیمو لکه ژوره ، درګی ګردیز ، شمالی خوست ځاځی میدان ، شهرنو او .... کی وسله وال جهاد وکړ په ډیر و عملیاتو کی یی برخه واخیستله او دښمنانو ته یی د سر او مال درانه تلفات ورواړول .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه تکړه مجاهد او دینی عالم د درګی د ولسوالی پر مربوطو پوستو باندی د بریالیو عملیاتو په لړکی په ۲۷ /٦ /۱۳٦۷ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(اناالله وانا الیه راجعون)

د شهید ظاهر خان لنډه پیژندنه

دهغو مؤمنو مجاهدینو په ډله کی چی خپل سرونه یی د خدای جل جلاله د رضا په لار کی د

قربانی ډګر ته وړاندی کړی دی یو هم ظاهر خان د حنانی زوی ؤ چی په ۱۳۲۸ هـ ش کال د نکی

ځدرانو د جنت خیلو په کلی کی زیږیدلی ؤ .
نو موړی په افغانستان کی د کمونستانو له خونړی کودتا څخه وروسته په ۱ /۶ /۱۳۵۷ کال اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ له هغه وروسته یی د ملحدینو پر ضد وسله وال جهاد شروع کړ . د پکتیا په ډیرو سیمو لکه زیړوک ، ترموره دهنه ، ارګون ، ډبګی او لیژه کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی وه او هر ځل یی په ډیری میړانی سره د دښمن مقابله کړی وه .
بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه تکړه مجاهد د ۱۳۶۸ هـ ش کال د سنبلی په میاشت کی په درګی کی له ملحدو دښمنانو سره په یوه مخامخ جګړه کی د شهادت مقام ته ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

د شهید عبدالغفار کوچی لنډ ژوند لیك

د خدای جل جلاله د حقي لاري د مؤمنو او زړوورو مجاهدینو په ډله کي چی د جهاد کارنامي یي زمونږ د اسلامي انقلاب د جهاد په تاریخ کي په زرینو کرښو ثبت دی یو هم عبدالغفار کوچی د حاجی هاؤس خان زوي ؤ چی په (۱۳۳۶ هـ ش) کال کی یي د پکتیا د ولایت د شبك په غره کي دي فاني نړي ته سترګي پرانیستی وی .
په افغانستان کی د الحادی کودتا څخه را وروسته یی په وسله وال جهاد پیل وکړ ، د پکتیا د ولایت په

ډیرو جهادي عملیاتو کي یي فعالانه برخه واخیستله او هر ځل یي په پوره زړورتیا سره د دین د دښمنانو مقابله وکړه او هغوي ته یي د سراو مال درانه تلفات ور واړول .
بالاخره دغه نومیالی مجاهد د (۱۳۵۸ هـ ش) کال د عقرب د میاشتي په لومړیو ورځوکي د پکتیا د ولایت د شاهي کوټ په سیمه کي له ملحد و دښمنانو سره دیوي مخا مخ جګړي په ترخ کي د شهادت لوړ مقام ته ورسید .
(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید عرب الدین لنډه پیژند نه

د اسلام د حقي لاري د مؤمنو مجاهدینو په ډله کی

يو هم عرب الدين د مولا دين زوي ؤ چې د پکتيا د ولايت د خوست د لويي ولسوالی د ليوري د کلی اوسيدونکی په قوم اسمعيل خيل ؤ .

نوموړي په (۱۳٦۳ هـ ش) کالی کی د ملحدينو پرضد په وسله وال جهاد پيل کړي ؤ او په ډيرو



جهادي عملياتو کی يي برخه اخيستي وه . په ۸ /٤/ ۱۳٦۷ نيټه د سلمان فارسی (رض) په غونډ کي د يو مجاهد په توگه شامل شويو کال يی د نوموړي غونډ له مجاهدينو سره يو ځاي په ډيره ميړانه د دين او وطن د دښمنانو مقابله وکړه بالاخره د (۱۳٦۸ هـ ش) کال د سرطان په مياشت کي په جلال آباد کی د دښمن د توپ د گولی په ذريعه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انالله وانا اليه راجعون)

د شهيد طالب رحمدين لنډ ژوند ليك

د افغانستان د مسلمان ملت د اسلامی انقلاب د

جهاد د تا و ده سنگر د تکړه مجاهدينو له جملی څخه يوهم رحمدين د گلا بدين زوی ؤ چی په ۱۳۳٦ هـ ش کال کی د پکتيا ولايت د خوست د صبريو د زمير د کلی په يوی عالمی او درنی کورنی کی زيږيدلی ؤ .

نوموړی په ۱۳۵۰ هـ ش کال کی د دينی علومو په زده کړه پيل وکړ او د يعقوبيو په دارالعلوم رحمانيه او د لکنو او مير منډی په مدرسو کی يی دينی علوم ولوستل . کله چی په افغانستان کی کمونستی کودتا را مينځته شوه د دينی علومو زده

کړه یی پریښوده او په وسله وال جهاد یی پیل وکړ .

د وسله وال جهاد په جریان کی یی د بیلو بیلو عملیاتو په لړکی دښمن ته د سر او د مال درانه تلفات ورواړول .

نوموړی نو میالی مجاهد له خپلی کورنی سره په ۱۳۵۹ هـ ش کال اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه مجاهد په ۱۳۶۶/۱۰/۲۰ نیټه د شمالی خوست د باك په سیمه کی پر دښمنانو باندی د عملیاتو په جریان کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

اناالله وانا الیه راجعون

د شهید محمد ولی خان لنډ ژوند لیك

د کفر او الحاد پر ضد د افغانستان د مسلمان ملت د وسله وال جهاد د تاوده سنګر د پیاوړو مجاهدینو په ډله کی یوهم شهید محمد ولی خان ؤ چی د تیمت خان زوی او په ۱۳۴۲ هـ ش کال دخوست د علیشیرو د تریزیو په یوه غریبه خو با ایمانه او غیرتي کورنۍ کې زیږیدلی ؤ،نوموړی په ۱۳۵۹ هـ ش کال کی له خپلی کورنۍ سره یو ځای اسلامي هیواد پاکستان ته مهاجر شو او په ۱۳۶۲ هـ ش کال کې یې له خپلو نورو مجاهدو ورونو سره اوږه په اوږه د کفر او الحاد پر ضد



وسله وال جهاد پیل کړ .

سره له دی چی نوموړی بی سواده ؤ ، خو خدای جل جلاله د وسلو په تخنیك او استعمال کی ډیر ښه استعداد ورکړی ؤ ، خصوصاً دهاوان په استعمال کی دومره تکړه ؤ چی ښو تربیه شویو خلکو هم ورسره سیالي نه شوه کولی .

نوموړی د دښمن پر ضد په ډیرو عملیاتو کی برخه اخیستی وه او هر ځل یی ملحدینو ته د سر او مال درانه تاوانونه وراړولی وو .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه زړور مجاهد په ۱۳۶۷/۲/۷ نیټه د خدای جل جلاله د رضا لپاره د علیشیرو په علاقدارۍ باندې له دښمن سره په مخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(اناالله وانا الیه راجعون)

د شهید گل حمید خان «وتك» لنډ ژوند لیك

د اسلام د حقې‌لارې د نومیالو مجاهدینو په لیکه کې چې تل لوړې کارنامې یې زمونږ د اسلامي

انقلاب د تاریخ ځلانده باب دی یو هم گل حمید خان د علی خان زوی دی چې په ۱۳۴۲ هجری شمسی کال‌کې‌دخوست دصبر یود یاد خانی په کلی کې زیږیدلی و .

د ثور له خونړی کود تا څخه وروسته اسلامی هیواد پاکستان ته مهاجر شو او په ۱۳۶۰ هـ ش کال یی په وسله وال جهاد پیل وکړ .

په ډیروزیاتو جهادی عملیاتو کی یی برخه اخیستی وه او په هر ځل یی په پوره میړانی سره د دښمن مقابله‌کړی وه .

دغه پیاوړی مجاهد په ۱۳۶۷ هـ ش کال د باك په قرارگاه کی سخت ټپی شو . کله چی یی شفا ومونده بیرته د جهاد سنگر ته ورغی ترڅو په ۷ / ۱۰ / ۱۳۶۷ نیټه د خوست د علیشیرو د کنډك دسین خوره په پوسته باندی د مجاهدینو په عملیاتو کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

د شهید سیل خان لنډ ژوند لیك

د اسلام د حقې لارې د مجاهدینو په ډله کی یوهم شهید سیل خان د شهید شهباز خان زوی ؤ چې په ۱۳۴۸ هـ ش کال کی یی د خوست د علی شیرو د شعبی د کلي په یوه دینداره کورنۍ کی سترگی نړۍ ته غړولی وې .

نوموړی په ۱۳۵۹ هـ ش کال کی له خپلې کورنۍ



سره اسلامي هیواد پاکستان ته مهاجر شو او په ۱۳۶۱ هـ ش کال یې په داسې حال کې چې لاتنکی زلمی ؤ د جهاد سره مینی هغه د مجاهدینو لیکې ته وروست او په وسله وال جهاد یی پیل وکړ . د دښمن پر ضد یې په ډیرو عملیاتو کی ګډون وکړ او هر ځل یی په ډیری میړانی سره دښمن ته د سر او مال درانه تلفات ورواړول .

بالاخره د اسلام د لاری دغه ننګیالی مجاهد په ۱۳۶۶ هـ ش کال کی د ځاځی میدان په یوه سرحدی پوسته کی له دښمن سره په یوی مخامخ جګړه کی د خدای جل جلاله د رضا په لار کی د شهادت مقام ترلاسه کړ .

(اناالله وانا الیه راجعون)

د شهید شاه خان لنډ پیژندلیك

د هغو مجاهدینو په ډله کی چی خاص د خدای جل جلاله د رضا او اعلای کلمة الله لپاره یی وسله وال جهاد پیل کړی یو هم شاه خان د منګلایی زوی ، په قوم بکر خیل او د پکتیا د ولایت د ځاځی میدان د بك او سیدونکی ؤ .

نوموړی په ۱۳۵۸ هـ ش کال کی د کفر او الحاد په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی و . د دښمن په مقابل کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی وه او هر ځل یی د دین او وطن دښمنانو ته د سر او مال درانه تلفات وراړولی وو .

بالاخره د حقی لاری دغه مجاهد د ۱۳۶۸ هـ ش

کال د جوزا په میاشت کی ، په جلال آباد کی د دښمن د توپ ګولی په ذریعه د شهادت مقام ته ورسید .

اناالله وانا الیه راجعون

د شهید خاجو ګل خان لنډ ژوند لیك

د هغو مؤمنو مجاهدینو په لیکه کی چی کارنامی یی زمونږ د اسلامی انقلاب د ویاړلی تاریخ روښانه باب دی ، یوهم خاجو ګل خان د معراج ګل زوی ؤ چی په ۱۳۳۵ هـ ش کال کی د پکتیا ولایت د خوست د صبریو د علی کړی په کلی کی زیږیدلی ؤ .

په افغانستان کی د ملحدینو له کودتا سره سم یی وسله وال جهاد پیل کړی ؤ او په ډیرو عملیاتو کی یی میړانه ښودلی وه .



بالاخره دغه تکړه مجاهد په ۳ /۲ /۱۳٦۸ نیټهٔ د خدای جل جلاله د رضا په لار کی د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ .

انالله وانا الیه راجعون

دشهید تایب گل لنډه پیژند گلوي

د حق دلاري دنومیالیو او ننگیالیو مجاهدینو له جملی څخه چي د خدای جل جلاله د رضا لپاره یی جهاد پیل کړی ؤ ، یو هم تایب گل د خیرك زوي د پکتیا دولایت د درگی د ولسوالی د خوان د کلی اوسیدونکی په قوم منگل ؤ .

نوموړي د کفر او الحاد پرضد په (۱۳٦۲ هـ ش) کال کی وسله وال جهاد پیل کړي ،ؤ په زیات شمیر جهادي عملیاتو کی یی برخه اخیستی ، او په ډیره

میړانه یی د ملحد دښمن مقابله کړی وه . په ۹ /٥ /۱۳٦۷ نیټه د سلمان فارسی (رض) په غنډ کی دیو مجاهد په توگه شامل شو ، یو کال یی دغنډ دیو تکړه مجاهد په توگه ددښمن پرضد جهاد وکړ !



بالاخره د (۱۳٦۸ هـ ش) کال د سنبلی په میاشت کی د درگی په سیمه کي د دښمن د توپ په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحيم

وعن معاذ رضی الله عنهُ، عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:

«من قاتل فی سبیل الله مِن رجلٍ مسلمٍ فواق ناقةٍ وجبت له الجنة ومن جُرِحَ جرحاً فی سبیل الله اونُکب نُکبةً فانها تجیءُ یوم القیامةِ کأغزر ما کانت لونها الزّعفران وریحها کالمسك

رواهُ ابوداود والترمذی وقال حدیث حسنٌ صحیح»

پته:

ناصر باغ روډ - بورډ - پېښور.

پوسټ بکس نمبر ۱۰۳۳ یونیورسټي پوسټ آفس پېښور.

تلفون نمبر ۴۳۴۷۳ «

- د پښتي د اول مخ تصویر: د نادر شاه کوټ مرکز چې له آزادېدلو نه وروسته کمونستانو پرې پرله پسې بمباري وکړې.
- د پښتي څلورم مخ: د سکې د ټوغندي له غورځېدلو نه پورته شوي لوګي.